مورچل

څوارلسم کال، شپږمه، پرلپسې ۱۴۲مه گڼه،
ذي القعـــده۱۴۴۱هــ ق جـــون ۲۰۲۰م

دبنـديانو نـه خلاصـون بـه کابل اداري ته څومره ساه ورکړي؟

- که نبیل د خلیلزاد امنیت! نېولی وای؟!
- دوستم باید مخکې لا مارشال شوی وای؟!
- طالب او عسکر

زمـــور درونـــد جـهاد او د بګیل غلیم سپک تورونه

ورپښمین ټال، دعلم څواک

علمي، سياسي
او جهادي میاشتنی خپرونه

څوارلسم کال شپږمه، پرلپسې ۱۴۲مه گڼه،
ذي القعدة ۱۴۴۱هـ ق جون ۲۰۲۰م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	زمونږ درونده جهاد او د بګیل غلیم سپک تورونه	۲
۳	که نبیل د خلیلزاد امنیت نیوالی وای	۴
۴	بازی نارندرا مودی با کشورهای همسایه	۸
۵	بندیان به ټول آزاد شي پلمي او بهانې د منلو نه دي!	۱۲
۶	دوستم باید محکمې لا مارشال شوی وای!	۱۴
۷	کابل اداره له بین الافغاني مذاکراتو د تېښتې پلمې لټوي	۱۵
۸	ورځنمین ټال، د علم خواک	۱۷
۹	طالب او عسکر	۱۸
۱۰	د سپېځلي عشق په قلزم کې لاهو مجنون خوانه !	۲۲
۱۱	عقل خومره ارزښتناک اثر لري؟	۲۳
۱۲	په جهاد کې زمونږ اخلاق/له تېري کوونکي غچ اخیستل..	۲۶
۱۳	شیخ سعدي څوک و؟	۳۰
۱۴	د اسلام غزوات او سرایا	۳۲
۱۵	په ژوندکې د خوښي ارزښت او د حصول اسباب یې..	۳۵
۱۶	جنګي جنایتونه (جون)	۳۹
۱۷	دمورچل وړمې	۴۲
۱۹	۲۰۲۰م کال د مې میاشتې جهادي خبرونه	۴۴

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

ایوب صافی | حکمت
معین احمد | حافظ سعید
حسن زوی | موسی فرهاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دبنديانو نه خلاصون به
کابل اداري ته څومره ساه ورکړي؟

تمه خو داسې وه چې اوس بايد بين الافغاني مذاکرات پيل او تردېره پرمخ تللي واى، خو داچې د دوحې ترون د غوښتنې خلاف بياهم دا پروسه ځنډيږي ښکاري چې دامريکايانو په اوږو کې هم شګه وي اولکه څنګه چې دوى دغه ترون ته له ښه زړه نه دي راغلي، بلکې دېرو مجبوريتونو ورته اړکړي ، دغه ډول يې په کابل کې يوه ماده په خپل وخت نه عملي کېدل هم د دوى له ناغيږي پرته نه شي کېداى، کنه نو څنګه کېداى شي چې د دوى په لاس رامنځته د دوى عميله اداره دې د دوى په وړاندې ودريږي او د ورسپارل شوي کار په عملي کولو کې دې پلمې ولټوي ؟!!

خوخبره داده چې دکابل اداري ته به دغه ډول پلمې اود بنديانو نه خلاصون څومره ساه ورکړي، چې له کبله به يې په همدې ډول په قدرت کې پاته شي ؟! په داسې حال کې چې په وړاندې يې ولسي-کرکه، انزجار او داسلامى امارت دنظامي قوت پراختيا پردوى ورځ تربلې حلقه راتنګوي او دوى اوس هيڅکله په هغو شرايطو او حالاتو کې نه دي چې د اشغالګرو په وجود اوداشغال په دوام کې وو ، امريکا جمع ناټو چې په خپل ټول قوت ونه توانيدل پرافغان مسلمان ولس خپل استعماري اهداف ترسره کړي او ددوحې ترون لاسليک ته راضي کيږي ؛ څرنګه کيداى شي چې له هغوى پرته يې دلته لاسپوڅي اداره توان پيداکړي چې دولس له ارادې مخ واړوي ؟!

په هيواد کې سوله او امن راتلل حتمي دي، هيڅکله به يې يوڅو پردي پال دخپل قدرت د دوام لپاره مخ ونه نيولاى شي، سوله ځنډيږي خو له منځه يې څوک نه شي وړلاى، هغه څوک چې ملت ته په شلو کلونو کې د ملياردونو ډالرو له راتلو سره سره يوه اقتصادي زېربنا جوړه نه کړي، هيوادوال يې دنورو مجبوريتونو ترڅنګه يواځې دصحت په برخه کې هم دګاونډيو له مجبوريته راونه ګرځوي، هيواد ته له پورونو،فساد، اخلاقي بې لاريو، مرګونو او توپونو پرته بله لاسته راوړنه ونه لري؛ څه ډول کيداى شي چې په خپل نامشروع قدرت کې پاته شي اوپه هيواد کې دسولې اواسلامي نظام دراتلو په وړاندې دخنډونو ايجادول يې نتيجه ورکړي ؟!!

زخمي افغان

زمـورِ درونـد جهـاد

او د بڼکيل غليم سپک تورونه

امريکايـانو چـې د ننـګ او جنـګ پـر ډګـر وبايلله او فرعوني غرور يې زمـورِ د خـدايپال ولـس پـه تشـو لاسـونو د تکـبر لـه اوج ځخـه د ذلـت او پسـتې تـل تـه راوغورځـېـد اوس نـو د خپلـې عبرتناکې ماتې د توجيه لپـاره هڅـه کـوي چـې پـه تبليغـاتي اتهامـاتو او دروغـو سره خپـل شکسـت جبيره يا توجيه کړي.

دا څو ورځې په رسنيو کې دا خبره ګرځي او غربي مطبوعات په ډير آب و تاب انعکاس ورکـوي چې روسيې هيواد لـه اسـلامي امـارت سره د وسـلو او جنګي امکاناتو په برخـه کـې مرسـتې کـړي دي، حتی مجاهدينو ته يې د امريکايانو د وژلو پـه بـدل کې نقدي جائزې تعين کړي دي.

غربي مطبوعات په داسې حال کې دغې افـواه ته زور ورکوي چې د اثبات لپـاره يـې هـيڅ سـند او ثبوت نه لـري. يـوازې دا ويـل کيـږي چـې د کابـل اداري د مـلي امنيـت پـه شـکنجه خـانو کـې د يـو شمير بنديانو ځخه دغه اقرارونه اخيسـتل شـوي او وروسـته تـرې تبليغـاتي سـوژه جـوړه شـوې ده. معلومه خبره ده چـې لـه مظلومـو او زولانـه بنـديانو ځخه امريکايان او د هغـوی مـزدوران د خپلـو ګټـو لپاره هر ډول اقرارونه اخيستلای شي چې لـه بنـديانو ځخه دغسې ناوړه استفادې پخوا هم شوي دي.

امـا واقعيـت دا دی چـې د امريکـا او نـاټو د يرغل په وړاندې زمـورِ د مؤمن ولس ويـاړمن جهـاد د اسلام او افغانستان د تاريخ هغه بې مثله کارنامـه ده چې پخوا يې مورِ بيلګه نه لرو. پخوا کله هم نـه دي ليدل شوي چـې د نړيوالـو کفـارو دومـره سـتر ايتلاف او پوځي اشر دې زمـورِ په هيواد يرغل کړی وي او بيـا دې زمـورِ هيـواد پـه تـش لاس او ډيـرو

ابتدائي وسائلو دهغوی د پرمختللي تخنيک په وړاندې داسې بريالی مبارزه کړې وي.

په افغانستان ديرغل لپاره چې امريکايانو کوم ايتلاف جوړ کړی و، هغه حتی د نړيوالو جنګونو د متحدينو له ايتلاف څخه هم ستر او د ګډونوالو هيوادونو شمير يې ډير و. کله چې په افغانستان يرغل کېده د روسيې په شمول د امنيت شورى اکثرو غړو هيوادونو ورسره موافقه وکړه. د يرغل په وخت په ټوله نړۍ کې يوازې د عراق د مشر صدام حسين لخوا دغه يرغل وغندل شو، نور نو د امريکايي فرعونيت په وړاندې هيڅا د سپېن وهلو جرئت نه درلود.

اما دا زمور مؤمن او مجاهد ملت و چې په لوی الله تعالی په توکل او راسخ عزم سره د کبرجنې نړۍ مقابلې ته تک تنها خو د ايمان په وسله سمبال راووت. په څو کلونو کې يې يو ځل بيا نړۍ ته وښوده چې په قوي ايمان د مادي زبرځواک مقابله ممکنه ده. زمور مجاهدينو په خپل لاس باورت جوړ کړل او د امريکايي تخنيک وروستي ماډل ټانګونه يې ورباندې ريز مريز کړل. په زړو توپکو، زنګ وهلیو مرميو، بوشکه يي بمونو او خود ساخته ميزايلو يې د عصر- استدراجي تخنيک چيلنج کړ او په پای کې يې ټولې نړۍ ته دا زړه ورکړ چې د امريکايي يکه تازۍ په وړاندې د څه ويلو جرئت وکړي.

کرار کرار د امريکا په وړاندې يو ځل بيا د مخالفت او مقاومت غږونه پورته شول، يو قطبي شوي نړۍ يو ځل بيا د تغير په حال کې شوه. د سيمې او شرق هيوادونو د امريکا له شتون سره مخالفت اعلان کړ او خپلو خو يې د اسلامي امارت سياسي استازو ته د سفرونو او ديپلوماتيکو روابطو د پيل زرغون څراغونه هم روښانه کړل.

نو بناء ويلی شو چې د امريکايي يکه تازۍ په وړاندې د سيمې د هيوادونو رابيدارېدل زمور د ويارمن جهاد پايله او ثمره ده چې يو ځل بيا يې د تاريخ مسير ته تغير ورکړ. داسې نه ده چې خداى مکړه د روسيې يا کوم بل هيواد په مرسته زمور جهاد د بريا تر منزله رسيدلی دی.

امريکايي اشغالګرو او ټولو نړيوالو ته زمور د پاک، مستقل او بې داغه جهاد عظمت او پرتم د لمر په شان واضح دی. دوی دا نه شي قبلولای چې زمور دغه کارنامه په همداسې آب و تاب د تاريخ په پاڼو کې ثبت شي. نو ځکه يې د داغمن کولو لپاره متې رانغښتي او بيلابيل اتهامات او تورونه وريوري تړي.

خو زمور هيوادوال او ټول اسلامي امت پوهيږي چې دا د بګيلو او په شکست محکومو غليمانو وروستۍ هڅې او د پروتو لغتې دي. دوی غواړي په دې سره خپل داغمن زړونه ټکور او د عقدو ججوري تش کړي. نور نو زمور د جهاد استقلال او عظمت د لمر په شان روښانه دی چې د خفاشانو انکار ورته هيڅ زيان نه شي رسولی.

که نبیل د خلیلزاد أمنیت نیولی وای؟!

محسن پکتین

د جنایاتو د څېړنې نړیوالې اداري څو ځله هڅه وکړه په افغانستان کې د امریکایانو او نورو خارجي ځواکونو جنایات وڅېړي، خو امریکا یې بیا بیا مخه نیسي او لا په دې کار ګواښونه هم ورته کوي، موده وړاندې یادي اداري بیاهم هوډ ښکاره کړ چې دوی به له هر ډول فشارونو او ننګونو سربېره هڅه وکړي دا کار ترسره کړي.

په دې کې خو شک نشته چې په افغانستان کې د بهرنیانو او په ځانګړې د امریکایي ځواکونو جنایات له خیاله لوړ دي، خو میاشتې وړاندې واشنګټن پوسټ هم د افغان جګړې په اړه اسناد خپرولو سره ډېر څه په ډاګه کړل چې په ضمن کې یې همدغه خپل او د کورنیو اجیرانو پر مټ ترسره کړیو جنایاتو څخه هم یو څه پرده پورته شوه او لا ډېر نور څه پټ پاتې دي.

خو دا چې امریکا یې د څېړنې مخنیوی کوي زیان یې تر نورو خپله همدوی ته دی، بهرنیو هېوادو په ځانګړې امریکا ته له افغانستانه ورستانه شویو سرتېرو د ځان وژنې د پېښو شمېر خو بېخي لوړ دی، څو داسې پېښې هم ثبت شوې چې هملته پر خپلو ولسونو یې د توپک شپېلی وراړولې، پرې د جګړې خمار یې مات کړی او لاملیې همدا په افغانستان کې د دوی د جنایاتو نه څېړل دي.

په دغو جنایاتو کې افغان دولتي لوړپوړي چارواکي هم تر پوزې ښکېل پاتې شوي چې د واشنګټن پوسټ په اسنادو کې یې د ډېرو ښکاره نومونه او ځینې یې پټ او ضمني هم یاد شوي دي، له دوی څخه یو هم رحمت الله نبیل دی، نوموړی د کرزي په اداره کې د ملي امنیت مشر و چې بیا د ګډولې اداري په رامنځته کېدو سره غني د ګاونډیانو په اشاره له دندې لیرې کړ.

نبیل چې د پردیو د ګوډاګیتوب او افغان وژنې له برکته دغې چوکۍ ته رسېدلی وه په خپله دوره کې یې ډېرې بوږنونکې کړنې لرلې او له أملیې په نړیواله محکمه کې دوسیه لري، د ده له ګوښه کولو وروسته امریکایي استخباراتو او د حنیف اتمر په مشرۍ جاسوسي اداري د داعش په نوم ګډه پروژه را منځته کړه، په لومړیو کې د دې ډلې هویت هم تر ډېره همدوی پټ وساته چې په دې موخه به یې ځینې وخت داعشیان تر بریدونو او بمباریو لاندې نیول او تبېعي ورته مرګژوبله هم اوښته تر څو په ښکاره د جاسوسي اداري اوږې د

وحشتونو له تور څخه پرې سپکي او د وحشت توره څېره يې پرې يوځه سپينه وي.

آخوا بيا نيبل، جنرال رازق اونورو وحشي صفته قوماندانانو د ګډو پټو هڅو له لاري أمريکايي بليکواټر کمپنۍ ته د ميليونونو ډالرو پر لالچ د قرارداد او په افغانستان کې د کرايي قاتلانو په توګه د فعاليت سينه وډبوله، خو هغه مهال چې رازق د طالبانو په يو رسا بريد کې ووژل شو دغه خبره په ښکاره تر يو حده ورسره غلې شوه، بياهم د دولتي ځواکونو د ۰۱-۰۲-۰۳ او کمپاين عسکرو په نوم قطعو له بوډونکو کړنو جوتېده چې په پټه د بليکواټر سره تړاو لرونکي کرايي قاتلان پکې شته او دغه حقيقت هلته ښه په ډاګه شو چې طالبانو د يولړ عملياتو پر مهال له دغو قطعو څخه د يادې کمپنۍ ښښان لرونکي پوځي مهمات ولجه کړل.

دا مهال چې د طالبانو پروړاندې د سې ای اې او د هغو د کورنيو جاسوسانو ګډې داعشي پروژې د ناکامۍ پوره باور کېده او د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د طالبانو له زورورې جګړې او کلابندېو څخه د دولتي چورلکو او نقليه وسائطو پرمټ کابل ته را ټولېدل، يادو دولتي قطعو هم پراخو وحشتونو ته لاس اچولی وه چې زياتر به يې په شپنيو چاپو او ورځنيو بريدونو او بمبارۍ کې ولسي وګړي د همدې داعشيانو پروړاندې عملياتو او ځيني نورو نومونو په نښه کول چې خورا وحشي کړنې يې ترسره کړې.

ورسره کابل ته را لېږدول شويو داعشيانو له لوري همدلته هدفي وژنو او د ولسي ګڼې ګونې پر ځايو بريدونو زور واخيست چې ځيني يې زيات مرګوني او خونړي و، دا چې طالبان د دولت په ليکو کې د خپل استخباراتي جال په غوړولو سره توانېدلي د افغان چارواکو پلان او طرحو او د هغو ګڼو اسنادو ته لاس رسي پيدا کړي اوس يې په اړه ډېر څه په لاس کې لري چې بيا په خپل وخت تر ې استفاده کوي.

تر اوسه يې په کراتو دا ثابته کړې چې داعش ډله نه يواځې له پيله د سې ای اې او د هغو د جاسوسانو ګډه پروژه ده چې د طالبانو پر لاس له وژل کېدو څخه همدوی خوندي کړې او بيا کابل ته را رسولې، بلکې لا کابل ته له لېږدولو وروسته دلته هم د پر اصطلاح ملي أمنيت اړوند يو ګروپ په توګه أمنيتي ادارو کې ساتل شوې او د أمنيت اوسنيو او پخوانيو چارواکو په استخدام کې ده، په دې وروستيو کې چې طالبانو دوه تنه د ملي امنيت او دوه نور د داعش ډلې فعالان ونېول، د هغو له اعترافونو او تر ې تر لاسه شويو اسنادو يې د کابل رژيم پخوانيو او اوسنيو چارواکو، د افغان جګړې او سولې موقف يې، د دوی له لوري د امنيتي ادارو په چوکاټ کې د داعش ډلې استخدام، تمويل او سازماندهي او د داعشيانو د کړنو پلان ګذاري او ګڼو وحشتونو اړوند يې بلا واقيعيتونه را برسېره کړل.

دې اعترافونو او اسنادو وښوده چې په ښکاره يو څوک د کابل مزدور رژيم له چوکيو لېرې او يا هم وشړل شي، همدغه د پردې برنامو د پلي کولو لپاره تر ټولو وړ وي، په ښکاره شړل شوی خو په پټه هماغه وحشتونه تر پخوا

اغېزمن ترسره کوي، سنګين لګښتونه او لوړ امکانات په واک کې ور کول کېږي، که طالبان ورپسې نه وي د رژيم پر چوکيو ناست ګوډاګيان به د ورځنيو ګڼو لوبو او وړو جنايتونو په ترسره کولو کې ښکېل نه وپېژندل شوي او په دې ډول به لکه چې دوی يې ناکامې هڅې کوي پر چوکيو ناست او له هغو څخه ليري شوې جنايتکاره توري څيري دواړه پر دوه مخې او دوه رنګه له يادو جنايتو سپين ښودل کېدل.

يو د پام وړ او جالب پکې د خليلزاد د وژلو پلان و چې له شنډېدو وروسته افشا هم شو او بيا له افشا کېدو وروسته د طراحانو له لوري وهم منل شو چې د انکار پر ځای يې په زغرده پر خليلزاد او د هغه د سولې پر هڅو ټوکي وکړې، نبيل چې د اشغالګرو پوخ لاسپوڅی دی، لينګي يې تړې رېږدي، له تېرو دوو لسيزو راسې يې ورته هر ډول چوپړ وواهه، يو وخت خليلزاد ته هم د امريکا د سفير او افغان نژاد امريکايي په توګه غوټ مات و.

له بل لوري يې ځيني تېر ايستلي افغانان هم د واقعي هدف پر عين ضد ژمنو له ځان سره کړي دي، اوس په دې تور چې خليلزاد يې ترڅنګ ولاړو غولېدلو افغانانو ته د سولې او امنيت په را وستلو (چې دی يې خپله پلويانو ته دروغي وعده ورکوي) کې کليدي شخص دی بايد د اشغالګرو د ګټو لپاره د وژلو ولسي وګړو په څېر پر دومره وحشت ووژل شي چې له هرڅه سره منځه لاړ شي.

پر نومورې د سولې راتلو دومره بده ورځ جوړه کړې چې دا دومره نمک حرامي له خپل هغه بادار سره کوي چې شل کاله راسې (العياذبالله) د ځان په اړه د خدای په درجه ورته قائل او محتاج دی، د اُمريکا په کوردننه او پر نړيواله کچه د هغې په تاريخ کې تر ټولو مهمه او حساسه موضوع کې يې استازی په دومره پېچلي تکتيک وژنې چې وسله، بريدګر او د هدف په اړه استخباراتي مالوماتو پورې تړل امکانات هم د همدې اشغالګر بادار په کې وکارول شي چې ده ته يې په واک کې ورکړي، له منځه وړی هدف يې هم د خليلزاد په څېر د اشغالګرو مهمه سټه، اشغالګر ساتونکي يې او د اشغالګرو ورکړي امکانات وي او د طالبانو پر غاړه يې يوائې پړه شي.

نو که نبيل د خليلزاد اُمنيت!! نېولی (هغه يې وژلی) وای دا به ډېره ښه په ډاګه شوې وه چې امريکايي چارواکي لومړی په کوردننه او بهر د داسې جنايتکارو په روزلو کې، ورپسې په نړيواله محکمه کې د دوسيې لرلو سربېره نه محاکمه کولو او بيا د جنايتو د څېړنې مخنيوی کې په ټوله مانا تېروتې دي، ښايي بيا يې په افغانستان کې د ترسره شويو جنايتو د څېړلو مخنيوی نه کولای او اصلاً دا د ټولو جنايتو او جنايتکارانو د ملاتړ پر مانا دی، اُمريکا د خپلو جنايتکارو عسکرو په ډله کې د نبيل په څېر سلګونه ګوډاګيانو د جنايتو څېړنې مخنيوی هم کوي چې دا په کورنۍ او نړيواله کچه ورته سرخوړې جوړولی او د امريکايانو لپاره په هر ځای کې ګوانښ جوړېدلی شي.

که سبا دغه جنايتکاران په خپلو ترسره کړيو جنايتو پښېمان او له ځان سره په حساب

کې شي، نو بېرته پر جنایاتو د ککړېدو پر لاملینو ورګرځي، یا د نبیل په ځېر جنایت کاران له سولې راتلو وروسته له هېواد څخه تېښتې او یا شړل کېدو ته اړ شي په بهر کې به پر همدغو امریکایي چارواکو، استازو او ډیپلوماټانو یې همداسي چاري غواړي لکه پر خلیلزاد، بیا خو یې طالبان نه ذمه وار او نه یې هم پرې پرې ور لوېږي، په هر چا چې د خلیلزاد لپاره پلان شوې چاره وشوه، ځواب به یې امریکایي چارواکي وایي او په ټوله کې په افغانستان کې د ترسره شویو جنایاتو د ځېرنې مخنیوی یا لږ تر لږه نه ځپل د راتلونکې امریکا لپاره یو بد زېری دی.

د نیول شویو داعشي فعالانو اعترافونو او ورځخه تر لاسه شویو اسنادو دا هم وښوده چې په جګړه او د جنایاتو په ترسره کولو کې د رسنیو رول دومره زیات دی چې د وسلې او هیڅ ډول تکتیک رول ورسره نشي پرتله کېدای، که پر خلیلزاد پلان شوي برید ترسره شوی هم وای پرې به یې همدې رسنیو له عدت سره سم پر طالبانو ور اچوله، جنایتکارانو ته پر برأت ورکولو به یې هغوی نور هم ورته جنایاتو ته هڅول او په همدې تحریف به هغه څه هم را منځته کېدل چې نبیل او نورو سوله ضد کړیو غوښتل، له دې څخه هر څوک اندازه لګولای شي چې رسنی رښتوني حقیقتونه څومره تحریفوي او بیاپرې څومره لوی زیانونه مرتب کېږي، د رسنیو دغه جنایت په رښتیا هم چې تر هغو ډېر لوړ دی کوم چې دوی یې تحریفوي او ورته ګمارل شوې.

په دې وروستیو کې د هلمند ۲۱۵ قوماندانی عسکرو په سنګین کې د ولسي وګړو پر مېله ځای/ګنج د ډېسي توپ بریدونه وکړل او درانه ځاني او مالي زیانونه یې ور واړول، دا حقیقت له پیله لا تر لمر واضح و، خو په لږ وخت کې رسنیو د دغې پېښې خبر تحریف او د طالبانو د برید نوم یې ورکړ چې بیا وروسته کورنیو او نړیوالو ټولو جهتونو د خپلو ځېرنو له مخې همغه حقیقت تائید کړ کوم چې له پیله یې طالبانو کره انځوریزي او وډېویې صحنې په خپلو پاڼو او خواله رسنیو خپرې کړې وې.

د رسنیو دې ډول ګوابنونو ته په پام سره اړیو ټول رسنیز فعالیتونه یې دقیق وڅېړو او له واقع سره په پرتله یې پایله له نورو سرچینو خپره کړو چې دا اصلاً له امکانه وتلې چاره ده، نو طالبانو ته په کار ده چې په رسنیز ډګر او فرهنګي چټکو اقدامونو کې د مغرضو او خباثت خپرونکو رسنیو او خبریالانو فعالیتونو ته له خپل لوري حدود وټاکي چې د ژورنالیستي اصولو ته پابندي، بې طرفي او د واقیعیتونو رښتونې او کره انځور ګړي ده.

طالبان دي خبریالان او د رسنیو همکاران اړ کړي ترڅو د پېښې صحنې او په ځانګړې تر واک لاندې ساحو ته یې ورشي، له نږدې هرڅه وګوري، انځورونه واخلي، د پېښې را منځته کېدو پر مهال موجود و خلکو سره ویډیویې مرکې وکړي، د افواهاتو کره څېړنه وکړي او بیا له هر ډول سانسور او تحلیل پرته یې خبر خپور کړي، له دې پرته دي د طالبانو د نظامي اهدافو له دنه څخه خبریالان او رسنی له رسنیز فعالیت او د پېښو په اړه له هر ډول راپور او خبر ورکولو چې مستند نه وي په کلکه منع کړي.

آیا بازی نارندرا مودی

با کشورهای همسایه را، چین ویران می کند؟

◆ افتخار گیلانی - نویسنده معروف هندی
◆ ترجمه : حبیبی سمنگانی

عجب است، تقریبا تمام کشورهای آسیای جنوبی، بجای کشور متنوع و دموکرات هند، خود را در پهلوی چین، که دارای نظام آهنین است، مطمئن احساس می کنند. بکار این بود که هند برای این همه کشورها چراغ راه بوده، و پالیسی شفقت آمیز آن، همچون برادر بزرگ و مهربان، منافع این کشورها را در نظر می گرفت، و سبب آبادی و پیشرفت منطقه می شد.

اما از سال های مدید، تعامل هند در منطقه شکل توسعه طلبانه و استعماری گرفته است، به ویژه پس از حاکم شدن نارندرا مودی در سال ۲۰۱۴، این روش تندتر شده است. به شمول موریس (کشور افریقای) شبکه های بزرگ رسانه یی دو کشور آسیای جنوبی، مرهون احسان شبکه های استخباراتی هند است. هند درین کشورها همواره به طبقه اشراف، نظام های آمرانه و چند شبکه های میدیایی، هر گونه نوازش کرده و با بی اعتنای به خواسته ها و تمایلات مردمی، منافع خود را تامین کرده است، که مثال تازه آن نِپال است.

در جون ۲۰۱۵، هرگاه تمام احزاب سیاسی نِپال بر مسوده قانون اساسی آن کشور موافق شدند، با ایراد تند هند مواجه شدند. موقف دولت هند این بود که به مردم هندوستانی نژاد «مدهیشی» که در منطقه ترایی در مرز با هند، زندگی می کنند، به اساس نمایندگی تناسبی در پارلمان سهم

داده شـود. حـالا کسـی از وزارت خارجه هند بپرسد که این فرمول نمایندگی متناسب را آن هـا چـرا در خـود هنـد نافذ نمی کنند. در هنـد، ۱۹۵ ملیـون مسـلمانان کـه ۱۵٪ جمعیت هنـد را تشـکیل مـی دهنـد زیسـت دارنـد، امـا نمایندگی آن ها در پارلمان از پنج در صد بالا نمی رود.

به اساس منابع موثق، در اتاقی که زعمای سیاسی نپال در کاتمانـدو، پایتخـت آن کشور بر مسوده قانون اساسی فکـر و بحـث مـی کردنـد، صدای زنگ موبایل هر یکی به صدا درآمـد. ایـن زنـگ از سـفارتخانه هنـد در کاتمانـدو بـود، سـفاتخانه هنـد آگـاهی یافته بود که بـر مسـوده قـانون اساسی توافق شده است. ایـن برای زعمای نپال توهین آمیـز بود که یـک افسر-سـفارتخانه هنـد مـی خواهـد در جریـان مجلـس، بـه آن هـا توسـط تلفون، فرمان دهد. هـمان بـود که آن ها یکی پس از دیگری موبایل های شان را خاموش کردند.

سپس هند تا دو ماه دیگر تلاش کرد، تا آن قـانون اساسـی بـه پارلمـان نپال پیش نشود. در ماه سپتمبر، سـکرتر آن وقـت وزارت خارجـه هنـد جـی شنکر، که اکنون وزیر امور خارجه هند است، به کاتماندو رسید.

به باور یک تحلیلگر سیاسی نپال، روش جی شنکر بسیار اهانت بـار و غیر دیپلماتیک بود. وی به اشاره نارندرا مودی، یـک گونـه هشـداری را بـا خود آورده بود. اما آن را حتی رهبران هندپرور کنگره نپال نیـز رد کردنـد و جی شنکر تهیدست پس برگشت.

حزب هندوگرای هند و حامی مودی «آر اس اس» بیش تـر از حقـوق مدهیشی ها، به این ناراض بود که در قانون اساسی جدیـد، نپـال چـرا کشـور سیکولار خوانده شده است. قابل ذکر است که نپال در زمان نظـام سـلطنتی، یگانه کشور جهان بود که دین دولتی آن هندوئیسم بود.

سازمان های استخباراتی هند از سال ها در تلاش خودمختـاری منطقـه ترایی، در جنوب نپال و مرز هند، بوده انـد، تـا یـک منطقـه حائـل (buffer zone) میان کاتماندو و هند ایجاد شود. هند از یکسو خواهان خودمختـاری مردم مدهیشی است، اما از سوی دیگر پارلمان خود هند، نیمه خودمختـاری کشمیر را در اگست سال گذشته لغو کرد.

پنج روز پـس از برگشـت بـی دسـتاورد جـی شـنکر، هنـد بـه محاصره اقتصادی نپال آغاز کـرد. حتی نپال بـه سـازمان ملل متحـد شـکایت کـرد. ایـن بـدترین جزایـی بـود بـرای کشـوری محصـور در خشکی. پمپ های پترول نپال ماه ها خشـک مانـد. بنـدر کولکتـه هنـد، که اهمیت حیاتی برای اقتصاد نپال دارد، دروازه هـای آن بـر روی نپـال بسته شد.

این روش هند با کشوری بود که مانند چـین و پاکسـتان هرگـز خطـری برای امنیت و سلامتی هند نبود. در هـر دو کشـور (هنـد و نپـال) هنـدوها در اکثریت اند. شهروندان نپالی در ارتش هند وظیفه انجام می دهند، شش غُنـد

ارتش هند را عساکر نپالی تشکیل می دهند. معاشات آن ها از هند می آید. رئیس ارتش نپال ژنرال افتخاری ارتش هند و بالعکس رئیس ارتش هند ژنرال افتخاری ارتش نپال می باشد.

اما با این همه روابط عمیق، مردم نپال در باره هند بسیار به خشم آمده اند. صدر اعظم نپال «کی. پی. شرما اولی» هند را متهم کرده است که برای برکناری او، مشغول توطئه گری است.

نپال با توافق همه جناح های سیاسی، قانون اساسی کشور را ترمیم و نقشه جدید جغرافیای کشور را تصویب نمود. مناطق جنجالی مرزی نیز دران نقشه جا داده شده است، اما این کار سبب نارضایتی شدید هند گردید. در حالی که چند ماه پیش، دولت هند نیز چین نقشه ای را برای منطقه جامو و کشمیر اجرا کرد.

در سال ۲۰۱۸، هند نقش خاصی در نجات دادن نخست وزیر بنگلادیش «شیخ حسینه» از خشم و غضب مردم آن کشور، و دوباره روی قدرت آوردن خانم حسینه، انجام داد. ماشین های الکترونیکی رای گیری که در انتخابات بنگلادیش استعمال شد، از ایالت گجرات هند رفته بود. ماشین های که در خود هند هم بر آن، ایرادهای وجود داشت.

در سال ۲۰۱۲، هرگاه نخست وزیر کشور بوتان «جگمی تنلی» در برزیل با هم منصب چینای اش دیدار کرد، هند یارانه خود را که را بر تیل صادره به بوتان می داد، متوقف کرد. بلکه در سال بعدی، تنلی را از قدرت هم معزول کرد.

همچنان در سریلانکا ؛ گوتا بایا راج پکشا، سیاستمدار قوم پرست سنهالی ادعا کرد که سازمان استخباراتی هند در شکست او در انتخابات ۲۰۱۵ نقش اساسی داشت.

سریلانکا پس از جنگ هند و پاکستان در ۱۹۷۱، هدف سازمان های استخباراتی هند قرار گرفت. یک شخصیت مهم حزب کنگره هند، چند سال پیش برای راقم (نویسنده) گفته بود که اگر در سال ۱۹۸۴ خانم آندرا گاندی، سومین نخست وزیر هند، توسط یکی از محافظانش کشته نمی شد، بسیار پیش شاهد کشور علیحده ای می بودیم که از بدنه سری لانکا جدا می شد و شامل منطقه شمالی آن کشور می بود. به گفته او ؛ هند سریلانکا را به سبب همکاری با پاکستان در جنگ ۱۹۷۱ هرگز نه بخشیده است.

سریلانکا برای طیارات نظامی و ملکی پاکستان، سهولت دریافت تیل را فراهم کرده بود. پس از اینکه پاکستان دو پارچه شد و بنگلادیش به وجود امد، خانم گاندی و نزدیکان او، نهضت جدایی طلب تامیل ها را به سریلانکا متوجه ساخت و ایالت جنوبی هند «تامیل نادو» را به پایگاه آن ها تبدیل نموده، و به آماده سازی تامیل ها برای جنگ های چریکی آغاز کرد. این تامیل ها به «ببرهای تامیل» هم شهرت یافتند.

در هفتاد سال گذشته، هند توانسته است تنها با سریلانکا و بنگلادیش، مرزهای بحری و زمینی خود را تعیین کند. حتی مشکل تعیین مرز میان هند و بوتان هم تا هنوز حل طلب است. این چیزی است که توانایی دیپلماتیک هند را زیر سوال می برد. در طرف دیگر، چین از میان ۱۴ کشورهای همسایه، با ۱۲ کشور مشکلات مرزی اش را حل کرده است. در بیشتر موارد، این چین بوده است که به حیث یک کشور بزرگ ادعای خود را پس گرفته و یا از بعضی ساحات خود دست بردار شده است. معضل حدود بحری آن در بحر جنوبی چین، به سبب منافع امریکا تا هنوز دچار تعطل شده است. حالا هند هم درین معضل به حیث یک فریق وارد میدان شده است.

اگرچه نارندرا مودی با استفاده از فرصت مبارزه با ویروس کرونا، کوششی برای احیای مجدد سازمان منطقوی آسیای جنوبی «سارک» کرد، اما این هند بود که در شش سال اخیر از هیچگونه تلاشی برای از بین بردن این سازمان، دریغ نورزیده است. برای منزوی ساختن پاکستان، سازمان علیحده ای منطقوی به نام بیمستیک (BIMSTEC) ساخته شد. نپال، بوتان، برما، بنگلادیش، تایلند و سریلانکا اعضای این سازمان اند. همچنان یک تنظیم فرعی در داخل سارک، با عضویت برما، بنگلادیش، هند و نپال به نام «بی بی آی ان» (BBIN) ایجاد شد.

مالدیو و سریلانکا نیز زیر فشار هستند که به شمول هند، یک تنظیم فرعی بسازند. همچنان با محوریت بندر چاه بهار؛ ایران، افغانستان و چند کشور آسیای میانه نیز ترغیب داده می شوند که به شمول هند یک تنظیم فرعی ساحوی ایجاد کنند. هند از سال ۲۰۱۴، پس از اینکه نپال پیشنهاد شمولیت چین در سازمان سارک را پیش کرد و با مخالفت تند هند مواجه شد، در مورد سارک تشویش دارد.

بیشتر دولت های دهلی جدید در تلاش این بوده اند که حیثیت هند را در منطقه به حیث یک قدرت با رعب تثبیت کنند، اما این پالیسی چندان نتیجه ای نداده است. نارندرا مودی نیز همین استراتژی را دنبال می کند، یعنی باید کشورهای همسایه را مرعوب نگه دارد و گرد پاکستان حصار بکشد. اما حالا چین در شیر هند پشکل می اندازد، که در نتیجه آن، کشورهای همسایه جرات ایستادگی در برابر فکر توسعه طلبانه و سیاست استعماری هند، پیدا کرده اند.

پلمې او بهانې د منلو او اوريدلو ندي؟!!

خليل ـ عزيز

له امريکا سره د اسلامي امارت د حوت د ۱۰مې د هوکړې له مخې بايد د اسلامي امارت پنځه زره بنديان په لسو ورځو کې خوشي شوي واى او په مقابل کې به يې مجاهدينو د مقابل لوري ۱۰۰۰ بنديان خوشي کول.

خو کابل اداره، چې له لويه سره د دې مهم تاريخي ټرون مخالفه ده، د هوکړې د عملي کېدو په مخ کې د خنډونو ايجادولو هڅې زياتې کړې – چې يوه هڅه يې هم د بنديانو په خلاصون کې تعلل او بهانه جويي ده. له ټرونه پنځه مياشتې وروسته لا هم د اسلامي امارت پنځه زره بنديان نه دي خوشي شوي.

تازه يو ځل بيا کابل رژيم ويلي چې د اسلامي امارت نور ټول بنديان خوشي کوي، خو نږدې شپږ سوه بنديان د جنايي او حقوقي جرمونو له امله نشي خوشي کولاى.

د کابل رژيم له تېرو پنځو مياشتو راهيسې د بنديانو نه خلاصون په همداسې بېبنسټه او بدلېدونکو-رابدلېدونکو ادعاوو خنډولى خو په دې ډول په هېواد کې د اشغال شتون او خپله بقا يقيني او دوامداره کړي – کله ځان د توافق لورى نه بولي، کله د توافق پرځاى له ځانه د بنديانو د ازادۍ لپاره زيات وخت نيوونکى تقسيم اوقات جوړوي، کله د غټ او کوچني بندي خبره مطرح کړي او کله بيا د تازه ادعا په څېر بې بنسټه څرګندونې کوي.

په توافقنامه کې د بندیانو د خلاصون د مهمې برخې او شرط نه عملي کېدو د افغانانو د هغو خپلمنځي مذاکراتو مخه نیولې چې له اشغال د وروسته افغانستان او نظام په اړه به خبرې پکې کیږي. د بین الافغاني مذاکراتو په پیل کې ځنډ د هېواد بحران نور هم اوږدوي.

اسلامي امارت پخپله د توافقنامې بند بند ته ژمن دی، او د نورو لخوا هم د همداسې ژمنتیا غوښتنه کوي. په هوکړه کې له شویو توافقاتو ته ژمنتیا نه ښوول به له شکه پرته د سولې پروسه مختله کړي، چې دا نه د افغانستان په ګټه ده او نه هم د سیمې او نړۍ. اسلامي امارت د امریکا په متحده ایالاتو باندې هم غږ کوي چې پخپله هم توافق ته ژمن پاتې شي او تر خپل لاس لاندې رژیم دې هم، د د دې تاریخي تړون د بریا لپاره، ژمن کړي.

دبندیانو دخلاصون په وړاندې داشرف غنی درژیمګي ورستیو خنډ اچولو او پلمو څخه بریښي چې غواړي دنیا او خپلو بادارانو ته وښیی چې هغه دتیرو ۱۹ کلونو په اصطلاح لاسته راوړنو ته ژمن دی او دپنځو زرو بندیانو په جمله کي سو سوه تنه داسي بندیان شته چې ډیر خطرناک دی او بائید ازاد نشي.

خو اشرف غني او دارو دسته دې کلک باور ولري چې دغه چال او حربه به یې هم کوم جای ونه نیسي او نه به یې بهرنی نړۍ ورته کوم ارزښت ورکړي

نو ښه داده چې خپل شرمیدلی او شړیدلی حالت دې نور له بده نه بدتر کوي ځکه کومه توافقنامه چې په دوحه کې شوي امریکایان او اسلامي امارت ژمن دي چې هغه ټکي په ټکي عملي او تطبیق شي.

دوستم باید مخکې لا مارشال شوی وای؟!

م - مبصر

لـه تبـرو ۱۹ کلونـو راهیسې چې افغانستان کې د نـاټو او امریکـا هـر جـنرال او منصبدار خپله دنده او جنګي ماموریـت پـای تـه رسـولی کرزي په خپلو دورو او دمبین خـبره (شـورانګا بابـا) اشرف غني په خپلـو روژیمونـو کـې ورته په ډیره مستی د افغانـانو تر ټولو ارزښـتمن مدالونـه پـه ټټر ور ټومبلي.

داهـم ښـکاره خـبره ده چې دا مدالونه سرو انګریزانـو او امریکایانو ته یوازې لـه دې امله ورکړل شوي، چې هغوی ترخپلې قومنـدې لانـدې ښـه پریمانه مظلوم افغانان لـه تیغـه تیـر کـړي، د افغـاني عفـت جنـازې یـې پورتـه کـړي او د افغانانو دیني او ملي ارزښـتونه یـې پـه خـلاص مـټ تـوهین کړي.

دغه راز پـه کـور دننـه کـې هـم د جنرالـي، مارشـالي، وزارت، وکالـت وغیره رتبو لپاره معیار د قتل، غصب، چور، غلامی، تعصب او قوم پرستي ده، چې جنرال عبد الرشید دوستم په دې ټولو معیارونو برابـر شخصـیت دی؛ نـو ولې دې مارشال نۀ شي !؟

په خپل وخت کې یې د ګلمجم بـد نامـه ډلـه اوملیشي- جـوړې کـړې وې، په قتل، لوټماري، ستم، اخلاقي جنایاتو کې یې تربل هرچا زیات نوم او نشان ګټلی، یواځې په دشتې لیلیٰ اؤ قلعه جنګي کـې یـې لـه لسـو زرو ډیـر مظلوم اسیران پـه پـوره قسـاوت قتـل عـام کـړل، د ایـران، ازبکسـتان، ترکـي، امریکا اؤ روسیې غلامي یې په خورا اخلاص سرته ورسولې.

د ایشچی په څیر د جنسي تجاوزونو او تیریو یې حسـاب څـوک نشـی نیولی، نوچې بیاهم دوستم نه مارشال کیږي نو داخو له هغـه سره سراسر جفـا او نه ښښونکي زیاتی وو؟!

له دوستم وړاندې چې قسیم فهیم پۀ شان یۀ لنډغر جنګسالار مارشـال کښدای شي نو پۀ هماغه نظام کې بیـا د دوسـتم پـۀ مارشـال کښـدو خـو هـیڅ تعجب نه دی پکار !؟

او بله خبره داده چې یو څوک څانته ولسمشر وایـی او د نـړۍ د دوهـم درجه مفکر نسبت څانته کوي او هغـه پـه یـوې غونـډه کـې وایـی چـې هغـه غواړي په لوګر کـې چـې ډډه ابـایي سیمه ده دوه زیرزمینونـه جـوړ کـړي یـو دنارینه وو لپاره او بل ښځینه لپاره نوپه دغسې نظام کې چې ولسمشر یـې دا ډول کروندې کوي او دا ډول بوس په ککړه کې لري؛ نو بیـا بـه یـې مارشـال ولې دوستم او یا د هغه په څیر څلور بول ونه ووسی هغه متل دی چـې دایـی دیګ او همدایې شوروا ؟

کابل اداره له بين الافغاني مذاکراتو

دتيښتې پلمې لټوي!

■ ارمان

دچنګابې په ۱۹مه (۱۳۹۹ ل) دکابل اداري دامنيت شوری يو ويانـد (جاويـد فيصـل) پخپـل تـويټر پانـه وليکـل(ددوی پـه اصطلاح)داسـلامی جمهوري دولت لخوا تـردې دمه ۴۰۱۹ تنه طالـب بنديان خوشي کړای شـوي دي اوطالبانوبيا د دوی دزروبنديانوله ډلې نيمايي خوشي کړي دي

هغه ادعا کړې ده چې د طالبـانو لـه لـوري پـه ورسـپارل شـوي ليسـت کـې دمجرمينواودنشـه يـې توکو دقاچبرانو نومونه ليدل کيږي چې لـه املـه يـې دوی طالبانوته دوه انتخابونه وړاندې کوي يا داچې طالبـان دي ديادوبنديانوپـه څـای د۵۹۲ نـورو بنديانونوی ليست ور وسپاري اويادا چې دپروسې واک بـه (د دوی پـه اصـطلاح) دولـت پـه لاس کـې واخلي

دافغانستان اسلامي امارت لخواپر دې ټينګار شـوی چـې دوحـې تـرون سـره سـم دي د پنځـه زره بنـديانو خلاصـولو پروسـه بشـپړه کـړی شـي څـو دهرډول څنډ اوتاخيرپرتـه بـين الافغـاني مـذاکراتو پيليدوته لاهواره شي.

ويل کيږي چې دکابل اداري يوشمير چارواکي غـواړي دسـولې روانـه پروسـه دتخريـب يـا تعطـل بنکارکړي، او ددې لپاره وخـت پـه وخـت مختلفې پلمـې اوبهـانې رامنځتـه کوي،دهغوی عمـده هـدف دادی دادی چـې بـين الافغـاني مـذاکرات يـومخ شروع نشي زکه په دې سره به هغوی دخپـل دواک مـودې دغځولـو چـانس ترلاسـه کـړي يـا پـه بـل سپيناوي کابل اداره دخپل واک دغځولو لپاره دبين الافغـاني مذاکراتونـه دتيښـتې لپـاره پلمـې اوبهـانې لټوي

څنګه چې دافغانستان اسلامي امارت اړونـد ټـول بنـديان سياسـي دي، او هيڅکلـه د جنـايي جرمونو دوسيې نلري ديوشميرسرچينوپه وينا: کابل اداري دامنيت ملي څارنوالان اومامورين لګيـادي د يوشمير طالب بنديانوپخوانی تکميل شـوې دوسـيې دجنايي جرمونو اونشه يې توکو دقاچبرانوپه دوسـيو بدلوي څوبيرون ته وښيي چې دطالبانولخوا دوی ته په ورسپارل شوي ليست کې جنايي مجريمين اود نشه ئي توکو قاچبران خای کړای شوي دي .

په دې لړکې داشرف غنـي هغـه دخپـل واک غځول دي او دبنديانو له انساني اوسياسي مسئلې لـه څنډولوځخـه دحربـې پـه توګـه کـار اخلي،هغـه پوهيږي چې بين الافغـاني مـذاکرات شـروع شـي

نوهلته به دنوي اسلامي نظام دترکیب ترڅنګ د نوي زعامت موضوع هم تربحث لاندې راځي او دی هیڅکله دزعامت موقف له لاس وتل نه غواړي نو دسولې بین الافغاني مذاکراتوپروسې ته زیان رسول دده مهمه ارزوده

کله چې د کب په ۱۰مه دوحه کې د اشغال پای ته رسیدو هوکړه لیک مسوده امضاشوه په سباته اشرف غني ددې لپاره چې دنړۍ دمطبوعاتو پام ځان ته کړي اعلان وکړ چې یوبندي به هم خوشي نکړم، خوکله چې امریکایې دیپلوماتوپرې سترګې برګې کړې په لومړي ګام کې یې د۱۵سوه بندیانو خوشي کولو امر ورکړ، بیا دهغو په خوشی کولو کې هم صادق ونه خوت،دزرتنو دخوشي کولوروسته یې ۵ سوه تنه په دې ازاد نکړل چې په خبره یې طالبانو جګړه کې شدت راوستی دی

بیا کله چې دافغانستان اسلامي امارت مشرتابه لخوا دکوچني اخترپه مناسبت درې ورځې اوربند اعلان کړی شو اشرف غني هم د۲زره نورو بندیانوخوشي کولو اعلان وکړاوپه ۴۸ ساعتونوکې اړوندو اداروته دخوشي کولو حکم وکړ، خو هغه د۴۸ ساعتونوپه ځای یې دیوې میاشتې نه هم زیات وخت ونیو .

اوس دادی د امنیت ملي مستنطقین او څارنوالان لګیادي د طالبانو سیاسي دوسیې جنایي جرمونو ته اړوي او وربانديې دجنایې جرمونو تورونه پورې کوي اوپه دې توګه هڅه کوي چې دبین الافغاني مذاکراتو بهیر دخنډ بنکار وکرځوي.

زکه دافغانستان اسلامي امارت له پیله نه دا دریځ لري چې څوپورې دپنځه زره بندیانو دخوشي پروسه تکمیل شوې نه وي ترهغه پورې دوی بین الافغاني مذاکرات نه پیلوي خلیل زاد هم پخپلو وروستیو سفرونوکې کوښښ وکړ چې دمذاکراتو پیل لپاره یوه معلومه نیټه اعلان کړی شي خو اسلامي امارت مشرانو دبندیانو پروسې دبشپړیدو څخه وړاندې دنیټې اعلانولو سره مخالفت وکړ او هغه ته یې په کلکه وویل چې دوی منتظر دي چې دبندیانو دخوشي کولوپروسه ژر تکمیل شي اوبیا بین الافغاني مذاکراتو ته دناستې ماحول دي رامنځته شي.

دکتونکو په اندپه دې توله ستونزه کې امریکا لاس لري او هغه نه غواړي چې افغانستان کې سوله راشي ولې که امریکا غوښتی چې دتاخیر پرته بندیان ازاد کړي، دکابل اداره یا اشرف غني یې په مقابل کې کوم واک لري؟ اصلي خبره داده چې امریکا غواړي په امارت نورفشارډپر کړي او ودکابل لاسپوڅي اداري حیثیت منلو ته یې اړکړي خو دامریکایانو داتمه عبث اویې ځایه ده دافغانستان اسلامي امارت له وړاندې څخه دکابل اداري په ارتباط بنکاره موقف لري چې دهغه نه هیڅکله نه په شا کیدونکی دی لنډه داچې امریکا او هم لاسپوڅي اداره دي دموضوع حساسیت په پوره توګه درکړي اودبندیانو خوشي کولو په لړکې دتګې برګې روان کړی برخورد پای ته ورسید واقعبینانه بین لافغاني مذاکراتو شروع کیدو لپاره دي ژر تر ژره دبندیانو خوشي کولو پروسه تکمیل کړي...

په اتمه هجري پيړۍ کې علامه سعدالدين مسعود تفتازاني (رح) چې يو نامورعالم تيرشوی ، هغه ځکه تفتازاني بولي چې دخراسان ديوه ښار (تفتازان) اوسيدونکی و .

نوموړي زښت زيات ديني کتابونه ليکلي ، ځرنګه چې دغه کتابونه په ډير لوړ معيار ليکل شوی و ځکه نو مسلمانانو ډير زيات خوښول ، په هغه وخت کې چاپخونې نه وې ، دعلم مينه والو په لاسو باندې کتابونه ليکل ، دعلامه تفتازاني کتابونه يې هم په لاسونو باندې نقل کړل او داسلامي نړۍ هرملك ته ورسيدل .

دثمرقند پاچا امير تيمور چې دعلامه تفتازاني دعلم اوکتابونو شهرت واوريده نو ثمرقند ته يې راوغوښت ، علامه تفتازاني هم ثمرقند ته ولاړ او هلته په رسيدو يې ډير عزت وشو امير تيمور نوموړي ته آسونه، خادمان ، خېمې او نور ډير څه ورکړل او ورته يې وويل : زما په پاچاهي چې هرچيرته غواړې هلته ولاړشه او خلکوته ددين ښوونه وکړه .

اميرتيمور دخپل وخت يو ستر واکمن پاچا و ، هغه دنړۍ ډير هيوادونه دتورې په زور فتح کړي و .

يوه ورځ هغه خپل يو استازی په کوم ضروري کارپسې وليږه ، او پوره اختيار يې ورکړ چې دارتيا په وخت کې دهر چاآس په لاس درشي کولای شي په خپل اختيار يې روان کړي ، قاصد ته په تلو تلو کې په يوه ځای کې دسپرلی ضرورت شو تصادفاً په دغه ځای کې علامه تفتازاني په يوه خيمه کې اوسيده او بهر يې آسونه ترلي وو ، دپاچا استازي له پوښتنې پرته يو آس راخلاص کړ او روان شو .

دعلامه دچوپړيانو غړو پورته شو ، نوموړي له خيمې دننه وپوښتل ولې څه خبره ده ؟!

هغوی وويل : ښاغليه ! شاهي استازي په خپل سر آس خلاص کړ اوله ځان سره يې بوت .

ددې خبرې په اورېدو سره تفتازاني (رح) ډير خفه شو اوخپلو نوکرانوته يې امروکړ چې استازي ونيسي او سزا ورکړی .

خادمانو دپاچا استازی ونيو اوله ډيرو وهلو وروسته يې پريښود قاصد چې کله راوګرځيد پاچاته ورغی او ټوله کيسه يې ورته وکړه ، پاچا ته سخته غوسه ورغله اوله ډيره قهره يې له خولې څخه غږ نه راوت ، ترڅه وخته غلی و اوبيايې وويل :

که زما زوی " شاه رخ" هم دغسې کارکړای وای نو مابه وژلی وای ، خو داسې سړی څنګه وژلای شم چې ترننه پورې ما کوم ښار يا هيواد دتورې په زور فتح کړی هغه لاله وراندې په خپل قلم فتح کړي وي ، يعني داچې دعلامه تفتازاني کتابونه هلته رسيدلي وي اودخلکو زړونه يې ګټلي وي .

زاهد غروال

طالب او عسکر

داسلام دخوارې دين هره شعبه دومره خورې اوجلا جالبيت لري، چې څومره يوڅوک ددين په يوه خانګه کې ډېر دخيل شي هومره ورته هماغه شعبه ډبلې په پرتله ډېره مهمه اومرکزي ښکاري، همدالامل دی چې داعي دجهاد برخې ته په هماغه سترګه نه ګوري څومره چې ددعوت شعبه ورته مهمه بربښي، مجاهدته ددعوت برخه همداسې وي، دغه رازد ذکر، تصوف، صدقات، صله رحمي او نورې برخې .

ولې بياهم دجهاد دسنګر فضا څه بل ډول حالت لري،کوم خوند اونشاط چې د دين په دې برخه کې شته په يقين سره ويلی شو، چې ددين په نورو شعبوکې به نه وي اوداهغه چاته ښه معلومیدای شي چې ددين له ټولو شعبو سره يې څه نا څه تړاو لرلی وي.

ياعابدالحرمين لوی ابصرتنا لعلمتَ انک فی العبادة تلعبُ همدا دجهاد دخوارې سنګر زړه رابښکونکې فضا اودهيوادپه زړه پورې موسم و، په مخابره کې دملي اردو يو عسکر اويوطالب مجاهدسره رخ شول، له يوې لنډې مکالمې وروسته د دواړو ترمنځ په دې اتفاق راغی چې يوبل ته به قناعت ورکوو او دابه سره معلوموو چې څوک په حق اوڅوک ناحقه دی؟

په رښتيا هم چې له مجاهدينو سره په سنګر کې د مشرانو طالبانو او مسؤلينو موجوديت ډېر ګټور دی، ددوی تجربې دهغوی دمحبوبيت او کاميابی لپاره ډېرې اړينې دي.

دطالب اوعسکر محاوره په دې ډول پيل شوه :

طالب : ستا سواد په څومره حد کې،دی چې ټولې علمي اوسياسي پوښتنې خوابولی شې ؟

عسکر: بس مکتب به مې هم ويلی او په ديني علومو کې هم معلومات لرم .

طالب : ډېره ښه ده، اول به په دې خبره سره اتفاق شو چې يودبل خبرې ته به غوږ نيسو کنځل اوناوړه الفاظ به نه کاروو سمه ده ؟

عسکر : ښځي جوړه ده .

طالب : په دې به هم راسره اتفاق کوې چې له موضوع به هم دباندې نه وزو!

عسکر: چې ته له موضوع ونه وزې! زه نه وزم .

طالب : ښه نو ته به هم يوه مدعا لرې! زه يې هم لرم اودهغې لپاره جنګېږم، زما مدعا داده چې زه په حقه يم دحق لپاره جنګېږم اوته په باطله يې! ته څه وايې اوستا مدعا څه ده ؟!

عسکر: نه! بلکې ته په باطله يې زه په حقه يم اوزما مرګ شهادت دی .

طالب : ښه ! که ماخپله مدعا ثابته کړه اوستاباطله شوه بیابه څه کوو ؟!

عسکر: که تا زه په باطله کړم اوماته دې قناعت راکړ بالکل درته تسلیم یم خپل صف پربږدم اوله تاسره دربږم .

طالب : داسې به ونه کړې ؟!!

عسکر: زه یې کوم! خوکه ستا مدعا باطله شوه ته به څه کوې ؟!

طالب : له راسره وسلې سره به درشم اوستاترقوماندې لاندې به وجنګېږم! خوچې ته په خپله مدعا څومره باوري یې ؟

عسکر : دمرګ ترحده!

طالب : ته خپله مدعا څنګه په حق بولې ؟!

عسکر: زه له وطن څخه دفاع کوم اوله خپلې خاورې څخه په دفاع کې شهیدیم .

طالب: خاوره له چا څخه ساتې ؟!!

عسکر: له پردیو اوپنجابیانو څخه .

طالب : له تاسره په جنګ کې طالب مخامخ دی که پنجابی ؟ رښتیا به وایې !؟

عسکر: خوهمدا طالبان پاکستان رالیږي اوپنجابیان وسلې ورکوي!

طالب : تاکوم پنجابی پخپله لیدلی په جنګ کې ؟

عسکر: مانه دی لیدلی خوډېر ځایه لیدل شوي اونیول شوي .

طالب : طالب پاکستانی دی که افغانی ؟

عسکر: هغوی افغانان دي، خو دپاکستان په اختیارکې دي.

طالب : ښه ستاټوله جګړه دهمدې لپاره ده چې ته دافغانستان خاوره له پاکستانه ساتې ؟!!

عسکر: هو! بالکل دهمدې لپاره.

طالب : ښه نو له امریکایانو یې ولې نه ساتې هغوی خو هم پردي دي اودلته په خپل زور راغلي ؟

عسکر: هغوی خو ببرته ځي

طالب : ښه نو طالبان ولې له تاسې افغانانو سره دپنجابیانو په خاطر جنګ کوي، دهغوی ګټه څه ده ؟؟

عسکر : پیسې ورکوي او غلط تبلیغ ورته کوي.

طالب : داپیسې او مادیات چې دی پرې یوځل ووژل شي، له مرګه وروسته به یې څه کوي ؟

عسکر: ښه نو دځه دپاره یې خان مرګ ته ورکړی ؟!

طالب : طالب دیوې عقیدې له مخې جنګ کوي! چې عقیده نه وي څوک په پیسو سر ورکوي ؟

عسکر : څه ډول عقیده ؟؟

طالب : داسلامي عقیدې له مخې اوداسلام لپاره !

عسکر : ولې مونږ کافران یو ؟

طالب : نه !مسلمانان یئ،خوکفارداسلام په ضد کار درځخه اخلي او زما دهدف پروړاندې خندې یاست.

عسکر : هو کنه ! ستا دهدف پروړاندې خندې یم ځکه مې مرګ روابولې !!

طالب : هو! خکه زما هدف داسلام حاکمیت دی، که ته نه خفه کیږې یوه بله خبره به درته وکړم

عسکر : کومه خبر؟

طالب : دافغانستان اردو کله هم دخاورې دخپلواکۍ لپاره جنګېدلې؟ خوتل داشغال په وړاندې په خدمت کې پاته شوې !

عسکر : دا خوته وایې ! ته راشه دخاورې لپاره ځنګه قرباني ورکوي ؟

طالب : زه یې درته ثابتوم، همدا اردو وه له یوه ټیم سرتېري او صاحب منصب پرته چې کله کله به یې تاریخ جوړکړ، چې هغوی به هېر هم نه شي، نور ه خو ټوله یو وار دروسانو په خدمت کې شوه او اوس دامریکایانو په خدمت کې ده ، همدا ملایان اوطالبان دي چې تل یې خاوره له پردو ساتلې.

عسکر : له موضوع ونه وتو ؟

طالب : نه ! ان شاءالله،

عسکر : ته خپله مدعا څنګه حقه بولې اوزما باطله په نظر درځي ؟

طالب : ددې لپاره به یوڅه وخت راکوې او غور به راته نیسې!

عسکر: سمه ده، خو خبره چې اوږده نه شي !

طالب : نه! ډېره یې نه اوږدوم، وعده خو مو په سرکې سره کړې وه، چې خبرې به په سړه سینه سره اورو که څنګه ؟

عسکر : هوا! بالکل، ښه نو وایه خپله مدعا ثابته کړه !

طالب : زه مسلمان او افغان یم دقرآن دحاکمیت لپاره جنګېږم اومرګ مې په دې نیت له شک پرته شهادت دی، او ستامرګ ماته ځکه روا دی چې ته مې په دې هدف کې څنډ یې، ستادقربانۍ اومرګ ثمره یواځې اویواځې ددیمکراسۍ حاکمیت دی اوبس، دخاورې دعوه دې ځکه سمه نه ده، چې خاوره سړی له خارجي یرغلګرو ساتي نه له خپلو خلکو! اوښه پوهېږي چې دلته خارجیان څومره دي، څه ډول راغلي، او واک له چاسره دی ؟؟

عسکر: داسلام مخه چانیولې، ټول خلک خپل عبادتونه کوي، چې ته یې یواځې په ځان کې ولې منحصربولې ؟!

طالب : عسکرجانه! داسلام مخه اوس تانیولې! سرخلاص کړه!

عسکر: ماځنګه نیولې ؟! ماته قناعت راکړه!

طالب : زما اوستاجنګ په دې دی چې زه وایم دسرخبره دې قرآن شي، نه وضعي اساسي قانون اوته وایې چې نه! دسرخبره دې ددیمکراسي وي .

عسکر: زه دیمکراسي څه کوم، زه دخپلې خاورې دفاع ته راوتلی یم .

طالب : دخاورې دفاع له داسې چاکوې چې هغه دهمدې خاورې بچی دی، دقرآن حاکمیت غواړي، اوته یې داسې چاته سپارې چې نه په وینه درګډیږي نه په دین ؟!! تاته فکر اونوم دخاورې درکول کیږي، خو قرباني دداسې هدف یې چې له قرآن سره په ټکرکې ده.

عسکر: زه هم نه شم ډاډه کېدلی چې ته دبل دګټو قرباني نه یې !

طالب : داخبره به بیا درته ثابته کړم، دټېرې خبرې دتکمیل لپاره زه تاته یوچیلنج درکوم !

عسکر: هغه څنګه ؟

طالب : هغه داسې چې زه دټولو طالبانو او امارت له لوري ډاډ درکولای شم چې که چېرته دسرخبره قرآن شي او نوروضعي قوانین دهغه په رنا کې اعلان شي، له جنګه لاس اخلو اوهیڅ چوکۍ نه غواړو، تاسې کولای شئ داخبره مو په حکومت ومنئ ؟

آیا ددې دومره لویې غمیزې دحل لپاره که داومنل شي کوم زیان به ولري؟! قطع نظر ددې چې مسلمانان یو اوباید همداسې وشي، که ستا حکومت داخبره اعلان کړي اوعملاً همداسې وکړي په هماغه ورځ یې همدا یرغلګر چې ته یې دوستان بولې له منځه وړي، که داحکومت خپلواک وي اوخپل اختیار لري، خو دا اعلان دې وکړي څه خبره ده!

عسکر :ښه نو چې تاته قدرت په لاس درشي ددې حکومت داټول تشکیل ټوله اردو اوټول عسکر به وژنې تاته یې مرګ روا دی ؟

طالب : نه! ماته چې قدرت په لاس راغی اودحکومت په ټولو ادارو دکفارو دقانون په ځای قرآن اواسلامي احکام فوق شول، نو بیا دهمدې ملي اردو! پولیسو، امنیت، ... ټولو حکم بدلیږي او مرګ یې ماته نه شي روا کېدلی، زمونږ له تاسې سره شخصي

دښمني نه شته، يواځې په همدې خبره سره جنګيږو چې مونږ وايو قرآن او اسلامي احکام دې دنظام په سرکې ځای ونيسي- او تاسې وايئ چې نه بشري قانون دې وي، ديمکراسي دې وي.

عسکر : په دې خبره دې زما زړه سپين نه کړچې ته دپاکستان سړی نه يې ؟

طالب : اول به دا درته ووايم چې له پاکستان سره دښمني

ولې ترامريکايانو زياته ده؟ چې زمونږ ددين اوخاورې دواړو دښمنان دي ؟ بيا دا چې ما ولې دپاکستان بولې ؟!

عسکر : پاکستان، هيڅکله زمونږ دخاورې دوست کېدلی نه شي، تاځکه دپاکستان کس بولم چې ته اومشران دې ټول په پاکستان کې اوسيږئ، له هماغه ځايه راځئ اودلته جنګيږئ، که جهاد وي نو خو هماغه نظام هم دکفر په قانون دی هلته ولې جهاد نه کوئ ؟

طالب : داسمه ده چې مشران به پاکستان کې وي لکه داسته رهبران چې دروسانو په وخت کې په پاکستان کې وو او اوس يې اکثره په امريکا او اروپاکې دي، او داهم درسره منم چې پاکستان زمونږ په مشرانو کې يونيم پرې ايښې له دې وجې يې نه دی پرې ايښې چې هغوی په افغانستان کې داسلامي نظام ارمانجن دي،شايد هدف يې په افغانستان کې ناکراري وي، بلکې دهغوی نظام ستاترنظام هم دپر غير شرعي دی، خبره داده چې زه په دې مکلف يم چې دهغه نظام اعاده وکړم چې داسلام دښمنانو په زور له منځه وړی او دپاکستان خاوره زمونږ يواځې دهجرت خاوره ده چې زمونږ مشران او نور افغانان پکې دمجبوريت شپې تېروي اوبله خبره داده چې له تاسره خو دلته په سنګرکې زه پروت يم او زما دادی شپږکاله کيږي چې پاکستان مې ليدلی هم نه دی.

عسکر : نبه نو چې داسې ده، راځه سوله راسره وکړه او راسره يوخای شه !

طالب : په حکومت دې داخبرې ومنه چې مادرته وکړې، ته ووايه! په دې خبروکې کوم نقصان شته ؟

عسکر : نه !

طالب : ته پوهيږې چې دافغانستان خلک ټول مسلمانان دي، نو بياولې دې نظام اسلامي نه وي، ولې په غرب پلوې ديمکراسي دومره ټينګ دي چې تاهم له ماسره دهمدې هدف لپاره جنګوي؟ اوس ته ووايه ! ستا حکومت دپردیو دلاس حکومت نه دی ؟ زما مبارزه په حقه نه ده ؟ دخاورې داستقلال لپاره ته جنګيږې که زه ؟ ستامرګ دخاورې لپاره قرباني ده اوکه دپردو راغلو داهدافو لپاره ؟؟!!

دسپېځلي عشق په قلزم کې لاهو مجنون ځوانه

عصمت الله بشام

چې د پسرلي دوهمه میاشت وي نرم باران شوی وي، دشنکي اسمان پر مخ نیم حاله وریځې خادر غوړولی وي، د خمکي غېړه او د غونډیو لمنې دوښو په زرغون وریښمین شال پوښلې وي د تاندو هیلو د پسرلي تاندې غوتې دې سپړېدلې وي ، د زړه پر فضا دې معطره وړمه چلیږي

دباغ لرونکې سیمې په څنګ کې دزرغونې غونډۍ په سرکې ناست یې

د پورې غره له لمنې د شپونکي جانان د شپیلۍ نغمې دې تر غوږو کیږي

د ازادۍ لیلا د بیلتون درد دې د وجود پر پلازمېنه منګولې خښې کړې وي

د شهادت د تلوسې شمال دې دارزو زلفان پر یوې او بلې خوا اړوي ، د بهشت دسپېځلو حورو د خیالو په قلزم کې لاهو یې او د زړه په خورجین کې دې دسپیځلي عشق خواړه دردونه میلمانه وي

څه فکر کوې دد سپیځلي عشق د خوږو دردو خوند به ددونیا په یو بل څه کې پیدا کړی؟

نه! هیڅ کله یې نه شي پیداکولی

نو دسپېځلي عشق په قلزم کې لاهو مجنون خوانه کوښښ وکړه چې دمنفې وسوسو د سیند څپې دې یونه سې پر لیلا خاورې دې د نړۍ وحشي- بدرنګو رقیبانو تیرې کړی

د لیلا خاورې په سینه کې دې د نړۍ بدرنګ داړور رقیبان د خپلې خوښې راج چلوي، دمستورې لیلا خاورې له اوربله دې ډیموکراسۍ دحیا شال په خمکه غورځولی

د ابدې ښکلا او ښایست ختینې مدرسې او مسجدونه یې په درنو بمونو له خاورو سره خاورې کړي دي، د افغاني غرور تر څنګ د مستورې لیلا خاورې د هر مجنون همدا یو الهې مسولیت دي چې دخپل تن په وینو او دسر په قرباني یې دفاع وکړي

نو بېړه وکړه د سپېځلي جهاد په بیړۍ کې د خپل هدف پر لور حرکت وکړه او دمستې غزا په مټ د ازادۍ لیلا سنګار او دشرعي نظام معطره وړمه دهیواد پر فضا خپره کړه.



حسن مومند

عقل څومره ارزښتناک جوهر دی؟

عقل هغه جوهر دی چې پرې انسان له نورو ژوندو شیانو ممتاز ګرځي ؛ پرې په انسان کې دعلوم نظریه و دقبول استعداد پیدا کېږي او له همدې امله په شرعي احکامو مکلف ګرځي.

دعقل اصل ځای او مقر څه دی؟

پدې باره کې دامام احمدبن حنبل نه منقول دي چې ځای يې قلب دی ؛ امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی ته هم همدا قول منسوب دی ؛ دوئ دالله تعالی ددې قول ته استدلال کوي چې فتکون لهم قلوب یعقلون بها .

همدارنګه د (لمن کان له قلب) په تفسیر کې مفسرین رحمهم الله تعالی دقلب معنی په عقل سره کوي ؛ یاني محل ذکر دی اومراد ترینه حال دی چې دعلم بلاغت په اصطلاح کې ورته مجاز مرسل ویل کېږي .

دسیدنا عبدالله بن عباس نه روایت دی چې هغه دسیدتنا عائشه رضی الله تعالی په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړ چې ام المؤمنین! یو تن کم قیام کوي اوزیات بیده کېږي(یاني نوافل کم کوي) اوبل تن زیات قیام کوي او کم بیده کېږي ؛ تاسې ته پدې دوارو کې کوم ښه ښکاري ؟

ام المؤمنین وفرمایل : همدا پوښتنه مې درسول الله صلی الله علیه وسلم نه کړی وه هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي و پدې دوارو کې غوره هغه دی چې زیات عقلمند وي؛ ما عرض وکړ یارسول الله زما پوښتنه ددوارو دعبادت په هکله ده ؛رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ای عائشه ! ددوارو نه یه یواځې دعقل په هکله پوښتنه کېږي خوک چې دېر عقلمند وي (په اخروي امورو کې) هغه په دنیا او آخرت کې په کم عقل فضیلت لري.

دسیدنا عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : دیوشخص اسلام ترهغې لوړ مه ګڼئ ! ترڅو مو چې دهغه دعقل ګرفت نه وي معلوم کړی .

دسیدنا ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اورېدلي دي هغه فرمایل : ترټولو رومبی شی چې الله تعالی پیدا کړ هغه قلم دی بیا يې نون پیدا کړ، مراد تري مشوانی ده ؛ بیا يې قلم ته حکم وکړ چې ولیکه ! قلم وپوښتل څه ولیکم ؟ الله تعالی وفرمایل : ولیکه ! هغه څه چې کېږي او هغه څه چې

دقیامت پورې کېدونکي دي ؛ بیا یې عقل پیداکړ او ویې فرمایل زما دې په خپل عزت قسم وي چې په تا به هغه څوک مکمل کوم چې ماته محبوب وي او ستا کمه حصه به ورکوم هغه تن ته چې ماته محبوب نه وي .

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چې کله الله تعالی عقل پیدا کړ نو ورته یې حکم وکړ چې وروسته ولاړشه !هغه وروسته شو بیا یې ورته حکم وکړ چې مخکې شه هغه مخکې شو بیا یې وفرمایل زما دې په خپل عزت او په خپل جلال قسم وي چې له تا مې غوره شی ندی پیداکړی ستا له وجې به موږ ورکړه کوو ستا له وجې به موږ سلبول کوو اوستا له وجې به موږ مواخذه کوو .

وهب بن منبه فرمایې چې ماته معلومه شویده چې الله تعالی په خپلو انبیاءو دا نازله کړی چې په شیطان یو شی هم دومره شاق ندی لکه یوعاقل مومن ؛ حال داچې هغه سل جاهلان زغمي نو دغه پسې یې راروان کړي وي پر اوږو یې سپور وي او چې پرکوم لور یې روانول غواړي روانوي یې ؛ دعقلمند مومن سره دشیطان مقابله ډېره سخته وي ؛ ترڅنه دخپل مطلب یو شی هم نه شي ترلاسه کولای .

د وهب رحمه الله تعالی وینا ده چې دشیطان لپاره دعاقل مومن سره دمقابلې په پرتله دخپل ځای نه دغر لرې کول اوتیګه تیګه وړل اسان دي ځکه چې مومن دعقل او بصیرت مالک وي نو پر شیطان دغر نه زیات دروند او د وسپنې نه زیات سخت وي ؛ شیطان هغه په ډول ډول حیلو دخپل مقام او مرتبې نه خرورول او اړول غواړي خو نه یې شي اړولای نوسره له دې تأسف دا اعتراف وکړي چې په ده مې وس ونه رسېدو ؛ بیا هغه جاهل طرف ته متوجې شي ؛ په خپلو لومو کې یې رابنکېل کړي ؛ په اوږو یې سپورشي ؛ درسوایې داسې کندو ته یې وغورځوي چې له آخرت نه وراندې یې په دنیا کې برباد کړي ؛ داسې ګناهونه وکړي چې له امله یې په دُرو ووهل شي ، په تیګو وویشتل شي، سر یې کل اومخ یې تور شي ، لاسونه اوپښې یې پرې او د دار په تښتې راوزړول شي. دوه کسان په یو ډول نېک عمل کې په ښکاره ببخې برابر ښکاري خو چې یو دبل په پرتله زیات هوښیار وي نو ددرجاتو په اعتبار ددواړو په عملونو کې دمشرق او مغرب بلکې له دې هم زیات تفاوت وي.

وهب فرمایې چې حضرت لقمان خپل ځوی ته نصیحت کولو چې ای ځویه ! دالله تعالی په باره کې هوښیار اوسه ځکه چې دالله تعالی په باره کې دترټولو نه دزیاتو هوښیارانو اعمال هم تر ټولو زیات بهتر وي ؛ شیطان دعقلمندانونه تختې اوپکې دا توان نه وي چې دعقلمندانو مقابله وکړي .

مطرف رحمه الله تعالی فرمایې چې مومن بنده ته دایمان نه پس ترټولو غوره ورکړل شوی شی عقل دی .

حضرت معاویه بن قرة فرمایې: ډېرخلک حج کوي ، عمره کوي ،جهاد کوي ، لمونځ کوي روژه نیسي خو ټول په اجر او ثواب کې برابر ندي ، دقیامت په ورځ به خلکو ته ددوی دعقلونو په تناسب اجرونه ورکول کېږي.

ابو زکریا رحمه الله تعالی فرمایې چې په جنت کې به هر څوک

دخپل عقل په مقدار دنعمتونو نه خوندونه اخلي.

څوک چې نورو ته په سپک نظر نه ګوري ؛دمشرانو احترام کوي، له ځان نه کمزوري اوکشران خلک حقیر نه ګني ، په خپلو خبرو کې دلویی نه ځان ساتي ، په ټولنیز ژوند کې دټولو ادابو لحاظ کوي ، دالله او دمخلوق دحقوقو د اداکولو کوښښ کوي او دخپل خالق سره یې رابطه قوي وي همدا عقلمند دی او داسې عقلمندان په دنیوي ژوند کې دهر ضررنه په خوندیتوب سره ژوند تېروي.


حضرت وهب بن منبه فرمایي چې حضرت لقمان خپل څوی ته
وویل څویه ! دانسان بشپړ ترهغې نه ښه کامل کېدای نې
ترڅویکې دا لس صفات نه وي راغلي .
۱ تکبر اوغرور ! محفوظ کېدل ځیکو کارونو نه کامل میلان
۲ سیاوي مال متاع پرواني دا پرته په اندازه له ځان سره
۳ تواضع نه بدي نه ښه ګڼل
۴ خلکو په وړاندې عاجزي په برت تو اوروالي څوره ګڼل
۵ پوهې دډېرو دحصول نه هیڅکله ستړی کېدل
۶ خپلې کومې اړتیا پوره کولو په موخه دخانه غوښتنه
۷ دحکمانه اندازه نه کول
۸ دچا لوبه ښکې هم دېره ګڼل
۹ پرچا کړی ډېر لوی احسان هم کوچنی ګڼل
۱۰ چې د [illegible]

دمکحول رحمه الله تعالی نه دحضرت لقمان دا قول مروي دی چې خپل څوی ته یې فرمایل: دانسان شرف اوسرداري په حسن عقل بنا ده ؛ دچا دعقل لوړ والی دهغه په ټولو ګناهونو پرده را اچوي او دټولو بدیو اصلاح یې کوي او دمولی رضا به یې په نصیب شي.

محمدبن اسحاق فرمایي چې حضرت لقمان خپل څوی ته وویل:څویه چې دې له چاسره دې ورور ولي کول غوښتل نو دامتحان په توګه هغه غصه کړه که دغصې په وخت کې هغه له اعتدال نه ونه وتلو نو ورور ولي ورسره وکړه ګڼي ترې ځان لرې وساته!

یقیناً چې عقل د الله تعالی ډېر ستر نعمت دی او دعقل نه دکار اخستلو استعداد پیداکېدل دالله تعالی لوی فضل دی ؛ بختور دي دهغو زمانومسلمانان چې الله تعالی هوښیاران مشران مقتداګان او حاکمان ورکړي وي.

حقیقت دادی چې د حاکمانو او مقتداګانو هوښیاري مسلمانانو ته په هرې زمانه کې ډېرې ګټې رسولې دي او حماقت یې مسلمانان د ډېرو ستړو تباهیو سره مخامخ کړیدي؛ الله تعالی دې په هر ځای کې مسلمانانو ته هوښیار حاکمان په برخه کړي او دکم عقلوحاکمانو نه دې یې محفوظ کړي.

په جهاد کې زمور اخلاق

له نېرۍ کوونکو غچ اخیستل

شېرمه برخه

زمور مبارک دین چې د کوم اعتدال او توازن ساتلو په صفت ځانګړی دی، واقعاً چې په ځینو مواردو کې مومن سړی متواضع او ښکونکی ګرځوي، عفوه کوي او په بدو سترګې پټوي او که عوسه هم وي بخښش کوي او په ځینو ځایونو کې هغه ډېر غیرتي او په مروءت (سړیتوب) کلک وي، خپل حق غوښتونکی، ظالم ځخه غچ اخیستونکی، له ناوړه چلند کوونکي سره ښه مقابله کوونکی وي نو غه ډول انتقام اخیستل به کله پکار وي؟

ابن العربي ددې پوښتنې په ځواب کې وضاحت ورکوي، وايي: چې سرکشه په ښکاره جنایت کوي ولس ورځخه بد وړي، وور او زور ازاروي، نو هغه ځخه انتقام ډېره غوره دی، او د ښېنې په اړه وخت او غوښتنه پدې ډول بیانوي؛ وايي: چې کله سړی ناپامي سره وښویږي او یا له داسې چا ځخه غلطي پېښه شي چې په غلطي اعتراف کوي، بخښش وغواړي، نو دلته درګذر (ښېنه) کول غوره دي.

او دغه معنا طبري په خپلو احکامو کې تائید کړې او ابن العربي ورسره همغږی دی چې د انتقام اخیستلو ښه والی د ابراهیم نخعي رحمه الله لدې وینا ځخه ډېر ښه معلومیږي چې هغه یې د سلفو په اړه وایي: (کانوا یکرهون أن یذلوا أنفسهم فتجترئ علیهم الفساق) دوی به دا بده ګڼله چې خپلو ځانونو ته ذلت وزغمي، نو په دوی به فاسقان جرأتمند شي. او عفوه یې هغه وخت پورې خاص کړې چې کله جنایتکار له زړه نه پښېمانه وي .

قرطبي رحمه الله هم دغه خبره ښایسته ګڼلې او منلې یې ده ، البته ښېنه یې په نا اصرار کوونکي حمل کړې، هغه وایي: (که په جنایت او ظلم باندې مصر- تینګ وي، بیا هغه ځخه انتقام اخیستل غوره دي). امام قرطبي ددې آیت چې فرمایي: {وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُونَ} او هغه کسان چې کله پرې تېرى کیږي نو دهغه مقابله کوي). په تفسیر کې دا هم راوړي: دغه انتقام اخیستل د هر تېرې کوونکي تیري او سرکشي ته عام دی چې هغه کافر وي که بل ځوک؟ کله چې دوی باندې د ظالم ظلم وشي نو دوی یې ظلم ته غاړه نه ږدي. امام قرطبي ﷺ چې ټول ویناوې راوړي بیا خپله تبصره داسې کوي: (په ټوله کې عفوه (ښېنه) مستحب کار دی، خو ځینې حالاتو کې دا کار سرچپه خیږي چې بیا عفوه پرېښودل غوره او مندوب دي او دا هغه وخت چې کله د تیریګر نور تیري ځخه منع کولو او یا د آزارولو فکر یې تري قطع کولو ضرورت ولیدل شي). او له نبي ﷺ هم دغسې راغلي چې پدې دلالت کوي). امام قرطبي هغه حدیث دلیل ګرځولی چې عائشې ﷺ پکې له زینب ﷺ سره مقابله کړې وه.

ددې آیت: {وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُونَ * وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا ..} او هغه کسان چې کله پرې

تېرى كېږي نو دهغه مقابله كوي او د بدۍ بدله همغسې بدي وي) په تفسير كې راځي : (يعنې دوى له هغو كسانو چا چې پرې تېرى كړى وي غچ اخلي او د جنايتكار ظلم ته غاړه نه ږدي). ابو السعود وايي: دا د دوى لپاره له تولو فضيلتونو سرېړه د زړورتيا صفت بيان دى چې دا د عفوې له صفت سره تكر نه لري، ځكه هر يو په خپل ځاى د ستاينې وړ دى. {وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ..} او د بدۍ بدله همغسې بدي ده) يعنې د جنايت په بدله كې چې چا ظلم كړى وي هغومره انتقام بايد واخيستل شي، بغير لدې چې د بدلې اخيستلو پر مهال زياتى وكړي. امام الفخر وايي چې دا آيت له (پورتنې آيت) سره گد راوړل پدې دلالت كوي چې دغه انتقام گيرې لازمه ده چې بالمثل وي، له كوم زياتې پرته وي او دا يې ځكه په بدۍ ونومولە چې دا د هغه چا لپاره بدي ده چې په هغه واقع كېږي.

كله چې امام مالک رحمه الله ځخه چا د سعيد بن المسيب د وينا په اړه وپوښتل چې وايي: **(لا أحلّلُ أحداً (زه چاته جواز نه وركوم)** هغه دا خبره داسې توجيه كړه: *(د ظالم سړي ځخه په ظلم كې تجاوز نه كول)*. بيا هغه وويل: **(زه دا نه وينم چې هغه دې د بل چا د ظلم له وجې هغه ته تيرى جائز كړي)**. ابن العربي د امام مالک رحمه الله فتوى پر خپلې وينا داسې علت وگرځوله: **(كه چېرته ظالم وي، نو سمه چاره يې داده چې هغه تيرې ته پرېښودل شي، ترڅو ظالمان نور مغروره نه شي او تاوره چارو ته نوره پراختيا ورنه كړي)**.

صاوي رحمه الله د جلالين په حاشيه باندې هم دغه خبره تائيد كړې، هغه وايي: (له ښو اخلاقو يو دادى چې سختي وشي بيا د غچ اخيستلو وروسته نرمي وشي خو په حلم كې شرط داده چې سرېتوب ته پكې زيان ونه رسي). اما كله چې د دين شعائرو ته سپكاوى وي نو بيا د حلم په ځاى غوسه كول واجب دي، په همدې خبره د امام شافعي ﷺ قول دى: **(مَن استُغضِب فلم يغضب فهو حمار)**. ځوک چې وپاورل شو او هغه غوسه نه شو نو هغه خر دى او شاعر وايي: د ځوان غوسه په ناسم ځاى كې نايوهي ده.

ددغه آيت چې الله تعالى فرمايي: **{لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلاَّ مَن ظُلِمَ ...}** ژباړه: الله دا نه خوښوي چې انسان په ښكاره بڼه وينا وكړي، مگر دا چې پر يو چا ظلم شوى وي). په تفسير كې چې ځوک يې داسې تلاوت كوي: **{إِلاَّ مَن ظُلِمَ}** امام قرطبي رحمه الله د ابي اسحاق الزجاج قول راوړي: **(يجوز أن يكن المعنى: إلا مَن ظلَم، فقال سوءًا فإنه ينبغي أن تأخذوا على يديه)** دا هم روا ده چې معنا يې داسې شي: هغه ځوک چې ظلم وكړي او بد ووايي نو په كار ده چې تاسې هغه منع كړئ) قرطبي ﷺ خپله تبصره داسې بيانوي: ما ووېل چې پدې كې د پېغمبر صلى الله عليه وسلم دېر حديثونه دلالت كوي چې ځينې پدې دول دي: **«خذوا على أيدي سفهائكم»** د خپلو كمعقلانو لاسونه ونيسئ. او دا وينا يې ده چې فرمايي: **«انصر أخاك ظالمًا أو مظلومًا»** دخپل ظالم او مظلوم ورور مرسته وكړه، هغوى (صحابه و) ووېل چې موږ به دمظلوم مرسته وكړو، دظالم مرسته به څنګه كوو؟ هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه له ظلم ځخه منعه كړه!

په يوه اوږده حديث كې راځي چې د پېغمبر صلى الله عليه وسلم مېرمنو خپله نماينده زينب ﷺ وټاكله چې د حضرت عائشې سره يو دول مساوات غوښتنه وكړي، هغه وخت چې دوى د هغه صلى الله عليه وسلم په زړه كې له عائشې ﷺ لپاره منزلت احساسوي چې هغه د نورو مېرمنو لپاره نه شته او دوى گوري چې كله پېغمبر د عائشې ﷺ په كور كې وي، هلته د خلكو تحفې هم دېرې راځي، نو زينب ﷺ په عائشې ﷺ باندې خبره

ور اوږده کړه او حضرت عائشې پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته کتل، هغه وایي : (**حتى عرَفتُ أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - لا يكره أن أنتصر ..**) تردې چې زه پوهه شوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه خفه کیږي چې زه انتقام واخلم او په بل روایت کې راځي: تردې چې پېغمبر علیه السلام وفرمایل چې: «**دونك فانتصري**» خپله دفاع وکړه، نو ما ورباندې مخ ورواړه تردې چې ما هغه کتله په خوله کې یې لاړې وچې شوې، ماته یې هیڅ خبره راغوښه نه کړه نو ما نبي علیه السلام ولید چې دهغه مخ نرم شو.

خو انتقام اخیستونکي ته دا نه ده روا چې د خپل مسلمان وروړ سره له هغه څه نه زیات تېري وکړي چې له ده سره یې کړی او دا یې هم حق نه جوړیږي چې د هغه حق ته په کمه سترګه وګوري. د مسلم په روایت کې د پورتني حدیث سره د حضرت عائشې ﷺ هغه وینا راوړې چې هغه یې له خپلې بَنې سره د وفاداري له وجې وایي، که څه هغې ورسره د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په مخکې شخړه وکړه، هغه وایي: (.. **ولم أرَ امرأة قطُّ خيراً في الدين من زينب؛ وأتقى لله وأصدق حديثًا، وأوصل للرحم، وأعظم صدقة، وأشد ابتذالاً لنفسها في العمل الذي تصدق به وتقرب به إلى الله تعالى، ما عدا سَوْرةً من حدَّة كانت فيها، تسرع منها الفيئة**). ما دهغې په څېر ښځه چې په دین کې له زینب ﷺ څخه غوره وي، هیڅکله نه ده لیدلې، هغه الله تعالی څخه وېرېدونکې او ریښتیاګوه ده، خپلوي پالونکې، ډېره صدقه ورکوونکې، او په ثوابي کار کې خپل ځان لپاره زیاته خواري کښه چې په هغې الله تعالی ته ځان نږدې کاندي، ماسیوا له دې چې جذباتي تېره والی پکې دی، ډېر ژر توبه باسي او په غلطۍ اعتراف کوونکې ده). همدا پېغمبري ادب دی، سره لدې چې اول هغې شخړه شروع کړې وه، خو بیا یې هم له حد څخه تجاوز ونه کړ او د هغې څخه په عذر بیانولو سترګې پټې نه کړې؛ نو پکار ده چې موږ د خپل وروړ چې موږ ته یې څه ناڅه خیر را رسي ، له هغه مغرور ظالم او کبرجن کافر څخه دانتقام په اخیستلو کې فرق وکړو او کله که دې خپل وروړ چې بد یې درسره کړي وي، د انتقام په وخت کې د شرارت زیاتېدو توقع کېدله او نور جنجال جوړېده او خبرې پرسوب کاوه، نو ته وګوره ! په شیطان دروازې بندې کړه او مصالح او مفاسد وسنجوه!

د سنن ابي داود کې یو حدیث په همدې معنا سره راغلی، یو سړي د نبي علیه السلام په مخکې په ابوبکر رضي الله عنه رابرګ شو، او هغه یې ازار کړ، کله چې دریم وار یې هم په تنګ کړ، ابوبکر رضي الله عنه خبره ورغوښه کړه، پدې وخت کې چې ابوبکر رض خپل ځان ګاڼه، نبي ﷺ ودرېد، نو ابوبکر رضي الله عنه وویل : ایا په ما کې دې څه پیدا کړل اې د ا لله رسوله؟ نو هغه ﷺ وفرمایل: «**نزل ملك من السماء يكذبه بما قال لك، فلما انتصرت وقع الشيطان، فلم أكن لأجلس إذ وقع الشيطان**» له اسمان څخه ملکه راکوزه شوه، هغه چې تاته څه ویل، هغه یې تکذیبول، بیا چې تا مقابله وکړه، شیطان راوغورځېده، نو چې شیطان واقع شي، بیا زه ددې نه وم چې کېنم. خطابي ددې حدیث په شرحه کې وایي: یقینا شیطان هغه وخت په منځ کې راوغورځېده چې ابوبکر رضي الله عنه خپله بدله اخیستله ځکه دده دغه مقابله هغه بل ملګری پاراوه، خاصکر هلته چې په د بدۍ بیا تکرار سره دهغه شرارت نور هم زیات شو، نو دا بیا د خولې اچولو نورجنجال ته لاره هوارولې.

کله زورول شوی شخص خپل فریاد د نوح علیه السلام په څېر کوي، کله چې هغه له خپل قوم څخه عاجز شو: {**فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِرْ**} [القمر: ١٠]

بيا هغه خپل رب ته غږ وکړ چې زه مغلوب شوم، اوس ته له دوی غچ واخله. خو په انتقام اخیستلو قادر سړی چې په شرعي قیودو او شرطونـو سره وي، بیـا دهغـه لپـاره د ذلت او ظالمانو ته د غاړې کېښودلو عذر نشته.

هرچه د الله تعالی وینا ده : {وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ} [الشوری: ٤٣] **البته څوک چې لـه صبر څخه کار واخلي او ښښه وکړي نـو دا دېـر د لـوړې ارادې له چـارو څخـه ده).** پـدې اړه قرطبـي رحمـه الله وایي: چې دا د شخص په ښښلو پورې اړه لري چې هغـه په جنایت باندې ټینګ نه وي، هرڅوک چې په بغاوت او ظلم ټینګار کوي، هغه سره مقابله کول غوره دي.

د غوسې قابو کول ښایسته او مستحبه ده مګر کله چې ته پر ظالم برلاسی او توانمند یې، که د هغه په توبـه او پښېمانتیا کې صداقت وي، یا هغه ښـویېدلي وي، پـه ظلم کې زوروالکی نه وي، بیا هغه دم عفوه دېر اولـی ده، مګر د کمزوري عفوه، د ناتوانه او اجباري عفوه وي چې پدې کې هیڅ ارزښت نشته.

د وار اخیستنې دغه خصلت واقعاً مهم او ضروري دی، ترڅو امت ذلت قبول نه کړي نه له فاسق څخه چې پرې غوسې کوي او نه له کافر څخـه چـې امـت حـلال کړي ځکه هغه امت چې د ظلم په وړانـدې چـپ وي او جبر او زور ته ځان تسلیم کړي، بیا هغه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قدرت له لاسه ورکوي او د جهاد روح پکې مړ کېږي، نو آیا مورِ هغـه وخـت چـې کلـه انتقـام اخیستل لازمي وي او هغه چې د انتقام اخیستنې پرته نـه رټل کېږي، غچ اخیستونکي یو؟

ددې فصل لنډې او ارزښتناکې:

- چېرته چې ښښه کول مناسب نه وي انتقام اخیسـتل د عفوې د خصلت بشپړونه ده.
- انتقام اخیستل د علني سرکش او زوروالکي څخه له عفوې غوره دی او له پښېمانه توبه ګار څخه عفـوه کول غوره دي.
- په غچ اخیستلو کې شجاعت د قابل عفـوې سـړي په ښښلو چې هغه توبه ګار وي، کوم تضاد نه لري.
- د امام مالک ﷺ فتوی له ظالم څخه په غچ اخیسـتنه ده هسې نه چې نور پکې مغرور او په ظلم جرأتمند شي.
- په غچ اخیستلو کې اراده باید د بالمثل انتقام وي نه دا چې د تېرې کوونکي په ظلم یې واړوي.
- په حلم (برداشت) کې شرط دادی چې سړیتوب ته صدمه ونه رسي او که نه انتقام اولی دی.
- ددې آیت: {الْجَهْرَ بِالسُّوءِ ...} (پـه ښـکاره بـدي کول) په تفسیر کې راځي چې: د کم عقـل لاسـونه باید وترل شي او له ظلم څخه وګرځول شي.
- د عائشې او زینب رضي الله عنـه تـرمنځ د انتقـام موقف نیول د یادولو ده.
- وار اخیستونکي تـه د عـدل او انصـاف حـد څخـه تجاوز کول روا نه دي.
- مغلوب په خپل کار کې دعـا کـوي او قـادر ذات د هغه انتقام اخلي، مګر د کمزوري سړي عفـوه کـې کوم فضیلت نشته.
- قرطبي ﷺ دغه آیت: {وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ} **معنا: (چـا چـې صـبر وکـر او ښښـه يـې وکـره)** پـه نـا اصرار کوونکي باندې حمل کوي.
- د غچ اخیستنې خصلت په امت کـې د جهـاد روح ژوندی کوي.

* * *

شیخ سعدي څوک و ؟!

درانی

تاسي به دشیخ سعدي نوم خامخا اوربدلی وي، اوپه کتابونو کي به مو دهغه کیسي هم لوستي وي، هغه ډیرنیك خویه ،پرهیزګار اوپوه سړی و، نوموړی د فارسي ژبې ډیرلوی شاعر هم و .

هغه دژوند ډیره برخه یو اوبل ځای ته په سفراو ګرځیداکي تیره کړه اوبیا یې "ګلستان" او" بوستان" دوه داسي کتابونه ولیکل چې دقیامت تروړځي به یې نوم ژوندی وي . نوموړي په دغه کتابوکي ډیري خوندوري خوندوري کیسي لیکلي ، په هغه کې ډیرښه ښه پندونه اونصیحتونه دي چې د عمل په کولوسره پرې ډیرې ګټې انسان ته ګټلای شي .

راځی چې دشیخ سعدي دژوند حالات دهغه څخه پخپله واوروو چې هغه په خپلو کیسوکي په خپله هم بیان کړي دی .

دشیخ سعدي خپل نوم مشرف الدین و، هغه له نن نه اته سوه ۸۵۰ کاله پخوا دایران په شیراز ښارکي زیږیدلی دهغه پلار شیخ عبدالله شیرازي سترعالم اونیك زړی سړی و ، نوموړي دخپل ګران زوی روزنه اوپالنه په ډیره ښه توګه ترسره کړه.

کله یې چې وړوکی سعدي دلومړي ځل لپاره په مدرسه کې شامل کړ نوهغه ته یې دسپینو زرو ګوته اویوه ډیره ښکلي تخته ورکړه، سعدي په ډیره مینه دمدرسي په لور روان و، په لاره کې یوه بدمرغه سړي دخوراك یو خوږ غولوونکي شی ورکړ اود هغه څخه یې دواړه شیان واخیستل اوترې پټ شو ، چې لوی شو سعدي به خپلو خپلوانوته دغه کیسه کوله اوهغوی ته به یې ویل چې تاسي هم دخپل عمر قدر نه دی پیژندلی اوزما په خبر مو دخپل ژوند راحت او اسودګي دخوږشي په بدله خرڅ کړي .

یوځلی وړوکی سعدي له پلارسره داختر لمانځه ته ولاړ ، په عیدګاه کې دخلکو ډیره اوګڼه ګونه وه ځکه یې نوهغه ته پلار دانصیحت وکړ چې زما ګوته به نه پریږدي که نه نو په دغه ګڼه ګونه کې به ورك شي ، په لاره کې یوځای هغه دخپل پلارګوته پریښوده اوپه ساعت تیري باندې مشغول شو ، له ساعت تیري وروسته یې چې پلار ترسترګونه شو نو له ویري یې ژړل ، په همدې کې یې پلارهم دده په پلټلو پلټلو ورته راورسیده ، له غوږ نه یې ونیو اودیوځو ټکانونو په ورکولوسره یې ورته وویل : بې عقله ! ماتاته نه و ویلي چې زما ګوته به کلکه نیسي ، که زما ګوته دې نه وای پرې ایښې نو ولې به له دې بدحالت سره مخ کېدلې .

په لوی والی کې به هغه دغه کیسه خلکو ته اورولې او ورته ویل به یې : که چیرې ددنیا په ګڼه ګونه کې ورکیدل نه غواړئ نودیوه نیك انسان

لمنه ونيسئ، اوکه دلويانو لمن پريږدی نو دحيرانی اوخفګان په څپوکي به غوتې وهئ، اوژاړي به !

شيخ سعدي دخپل ورکتوب يوه پيښه داسي بيانوي:

يوځل زه له خپل پلار سره دشپې جومات ته لاړم ، ما اوپلارمې تولې شپه عبادت کاوه، ځيني خلك زمونږ څلورو خواووته پراته و ، مامي پلارته وويل دغه خلك داسي پراته دی لکه مړه چې وي ، چې يوه هم نه لمونځ وکړ اونه دقران کريم تلاوت .

پلارمي راته وويل : که تاهم نه لمونځ کړای وی اونه تلاوت او ويده شوی وای نو دابه ډيره غوره وای دې ته چې دخلکو نيمګړتياوې دې وپلټلې .

شيخ سعدي له سلوکالونه هم زيات عمرتيرکړ ، دخپل عمر ډيره برخه يې دعلم په زده کړه کې تيره کړه ، لومړی يې په شيراز کې زده کړه کوله اوبيا بغداد ته ولاړ چې په هغه وخت کې يو ستر ښار اوداسلامي نړۍ مرکز و، هلته يې ترڅو کلونو پورې زده کړه وکړه ،اوبيا دنړۍ په ليدلو پسې ووت .

يوځل هغه په فلسطين کې ګرځيده چې عيسايانو ونيو اوديو خندق په کښلو کې يې له نوروخلکو سره په کارلګياکړ ، يوه ورځ دی په همدې شاقه کا رلګياو چې يودو ست يې په لاړه تيريده هغه چې سعدي په دې حال ولید نو ډيرپرې خفه شو ، ديوځو روپو په بدل کې يې هغه دعيسايانوله قيده راخلاص کړ او کورته يې راوست ، هلته يې دده ډير خاطر اولحاظ کاوه يواځې دانه بلکې هغه ته يې خپله لور هم په نکاح ورکړه ، اوس نو سعدي دهمدې ځای شو او همالته اوسيده خو دقسمت خبره ده چې دهغه ښځه ډيره جنګېره وه اوتل به يې له شيخ سعدي سره غال مغال و،

يوه ورځ هغې شيخ سعدي ته پيغور ورکړ چې ته خو هغه يې چې زما پلار له عيسايانو نه په دومره پيسو واخيستې ، سعدي ورته وويل : هو په دې کې خو شك نه شته ستا پلار يوښه سوداګردی چې تردې په زياتو پيسو يې بيرته په تا خرڅ کړم .

شيخ سعدي دخپل سير وساحت په وخت کې دخلکو خدمت ته ډيره پاملرنه کوله اودايې يو ډيرلوی عبادت ګانه ، کله به يې کاروانونو اولاړ ورکيو خلکوته لازې ښودلې ، کله به يې داوبو زی "مشك" په اوږه و اوحاجيانو ته به يې اوبه ورکولې اوکله به يې دپيغمبرانو له قبرونو سره په عبادت اخته و ، په همداسې يوه ورځ ديوه پيغمبر له قبرسره په عبادت لګياو چې دعربو يو بادشاه چې پرخلکو باندې په ظلم کې ډير مشهورو ، راغی اوله ده نه يې وغوښتل چې ماته دعا وکړه چې نن راته له يوه دښمن نه زياته ويره ده .

هغه ورته وويل : ورځه له خلکوسره ښه رويه اختيارکړه دادتالپاره ترټولو ښه دعاده ،ځکه که خلك له تا خوشحاله شي ستاحکومت به نورهم مضبوط شي ، په دې ډول به نومورې خلکو ته ډير ښه ښه نصيحتونه کول . وايي چې شيخ سعدي ديرش ۳۰ کاله په سفر اوسياحت کې تيرکړي .

دعمر په وروستيوکې بيرته شيرازته راوګرځيده اوهمالته په ۶۹۱هجري کې وفات شو.

نن هم دهغه له شان اوشوکت نه ډك مزار په شيراز کې شته چې سعديه يې بولي .

داسلام غزوات او سرلیا

یمن ته دعلی کرّم الله وجهه په مشری سریه استول:



❖ په تیرپسې

❖ ابوظهیر

رسول الله صلی الله علیه وسلم دحجة الوداع نه وړاندې دهجرت په لسم کال روژې میاشت کې په درې سوه کسانوباندې حضرت علي رضی الله امیرمقررکړ،او دیمن په لوریې وواستول، دروایتونوله مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل لاس مبارک دعلي رضی الله عنه په سر پکړی وټرله، چې درې ولونه وو، یوه شمله یې دیولاس پ اندازه مخکې ته زوړند کړه،او دیوې لویشتې برابریې شاته پریښوده ورته یې وفرمایل:

نیغ درومئ!بل لورته پام مه کرځوئ!اوهلته په رسیدو جنګ مه شروع کوئ ! لومړی هغوی ته داسلام دعوت ورکړئ! که هغوی اسلام قبول کړنووروباندې تعرض مکوئ! په خدای سوګند!یوتن چې ستا په لاس باندې هدایت ومومي داد دنیا اومافیها نه غوره دی.

حضرت علي رضی الله عنه د درې سوه سپرو سره روان شو، او «قناة» په نوم ځای ته په رسیدوپې هلته پراو واچاوه،اوبیا یې له هغه ځای څخه صحابه په ځوډلوکې وویشل او مختلفوځایونوته یې ولیږل ،داسلامي لښکر سپاره ترټولو لومړی « مذحج» سیمې ته ننوتل اوزیات شمیر ماشومان، میرمنې،اوښان او مالونه یې ونیول ،رایې وستل ټول یې په یوځای کې جمع کړل،دهغه وروسته یې دیوې بلې ډلې سره جګړه وشوه حضرت علي رضی الله عنه هغوی هم ته داسلام بلنه ورکړه لیکن دقبلولو څخه یې هغوی انکاروکړاوپه مسلمانانویې دغشواوتیرو ورولو حمله وکړه چې پکې دهغوی شل کسان ووژل شول اوبیا هغوی منتشرشول حضرت علی رضی الله عنه دځنډ وروسته هغوی تعقیب کړل اودوهم واریې بیا ورته داسلام بلنه ورکړه ،داځل هغوی داسلام دعوت قبول کړاوهم یې دخپل قوم له لوري داسلام بلنه قبوله کړه او وعده یې وکړه چې

موږ به صدقات چې الله تعالی حق دی اداء کړو .

دهغه وروسته حضرت علي رضی الله عنه غنیمت مال جمع کړ، اوپنځمه(خمس) یې وویسته پاته څلوریې په غانمینوویشلې، اوپخپل ځای یې یوتن بل دلښکر امیرمقرر کړ، او بیا په بیړه دخپلو ملګروځخه دمخه مکې مکرمې ته روان شو،زکه چې حضرت علي رضی الله عنه ته خبر رسیدلی و، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مکې ته د حجة الوداع لپاره راغلی دی نودی هم په حجة الوداع کې ورسره دګډون لپاره مکې ته روان شو

حجة الوداع:

دالله تعالی نصرت اومرسته راغلې وه، مکه فتح شوې وه، اوډلې ډلې خلک په اسلام کې داخلیدل، دکفراوشرک ریښې ویستل شوې وې، دلرې لرې ځخه وفود اوقبایل راتلل دکفر وشرک نه توبه ګار او په توحید ورسالت یې درښتیني زړه ځخه اقرار کاوه ، دنبوت منصبي فرایض اداء شوې وو، داسلامي احکاموتعلیم عملاً اوقولاً مکمل شوی وو، دهجرت په ۹کال رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه واستاوه او کعبه یې دجاهلیت دمراسمونه یومخ پاکه کړه.

اوس ددې وخت رارسیدلی وچې رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله دحج فریضه په عملي توګه اداء کړي،څو دتل لپاره امت ته داداء کولو طریقه معلومه شي، چې حج په څه شان سره کول پکاردي،او دحضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت اسماعیل علیه السلام دحج کولو طریقه څه ډول وه؟دحج په مناسکوکې داوال نه ترپایه توحید اوتفرید و، او دشرکیه کلماتو او دجاهلیت له رسوماتوځخه بالکلیه پاک اومنز و، په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم په تلبیه کې د«لاشریک لک» لفظ په خاص اهتمام سره وایه، څو دشرک ابهام پاته نه شي.

لنډه دا چې حضرت علي رضی الله عنه دیمن ځخه مکې ته لاړ او درسول الله صلی الله علیه وسلم سره دحج په مراسموکې شریک شو، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دحج نه بیرته ستنیده په لاره کې دمدینې اومکې ترمنځ په «غَدیرِخم» نوم ځای کې حضرت بریده اسلمي رضی الله عنها دحضرت علي رضی الله عنه ځخه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړنورسول الله صلی الله علیه وسلم هلته پورته شوویناپې وکړه او ویې فرمایل:

زه یوبشریم، ممکن نیردې زما دپروردګار لخوا یوقاصد زما دبللو لپاره راشي او زه دهغه بلل قبول کړم.

اشاره یې دیته وه چې دوفات زمانه نیږدې شوې ده بیا یې داهل بیتوفضایل بیان کړل او دهغوی سره یې دمحبت کولو تاکید وکړ دحضرت علي رضی الله عنه په باب یې وفرمایل:

«مَن کُنتُ مَولاهُ فَعَلِیٌ مولاه»

ژ: دچا چې زه دوست يم،حضرت علي به هم دهغه دوست وي.

دخطبې وروسته حضرت عمررضی الله عنه حضرت علي ته مبارکي ورکړه او دحضرت بريده رض زړه هم صاف شو درسول الله صلی الله علیه وسلم ددې ارشادمقصد داو چې حضرت علي، دالله تعالی غوره اومقرب بنده دی، اوزما داهل بيتو سره محبت کول دايمان غوښتنه ده او دهغوی سره بغض وعداوت يا نفرت دايمان دغوښتنې خلاف دی

علماوو ليکلي: دحديث مقصددحضرت علي رضی الله عنه سره دمحبت وجوب بيانول دي،دامامت اوخلافت پورې اړه نلري زکه دادنی عقل خاوند هم پوهيږي چې دمحبت اوخلافت ترمنځ دزمکې اواسمان توپير دی په محبت اوخلافت کې تلازم نشته چې ديوچا سره دي محبت وي هغه دې بلافصل خليفه هم شي، محبت داولادونو، والدينو،ميرمنو اوټولو دوستانوترمنځ وي نوايا ټول دې خلفاء کړی شي؟ حضرت عباس،حضرت فاطمه، امام حسن، اوامام حسين رضی الله عنهم ټول درسول الله صلی الله علیه وسلم محبوبان وو، نوکه محبت د خلافت دليل کېده نوبيا خودقرابت اوخپلوی له لحاظه ترټولو مقدمه حضرت فاطمه رضی الله عنها وه، بيا امام حسن، بيا امام حسين او په ځلورمه درجه کې حضرت علي رضی الله عنهم راځي دشيعه ګانو دمسلک له مخې هم ځلورمه درجه دحضرت علي راځي که اهل سنت يې ځلورم خليفه مني نوبيا شکايت په څه؟

بيا د غديرخم دخطبې نه دوه مياشتې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم رحلت وکړه سقيفه بني ساعده کې دخلافت په مسئله بحثونه وشول چې پکې هغوصحابه وو هم ګډون لاره چې د غدير خم په خطبه کې شريک وو، يوه هم داحديث دعلي رضی الله عنه دامامت يا خلافت لپاره ددليل په توګه وړاندې نکړاونه پخپله حضرت علي، حضرت عباس،او نه دبني هاشموڅخه بل کوم تن دعلي رضی الله عنه دخلافت داستحقاق لپاره دا حديث وړاندې کړی دی.

نوربيا...

په ژوندکې د خوښۍ ارزښت او د حصول اسباب يې

حسن زوی

کله چې په ژوند کې له مختلفو اړخونو دغم اسباب مخې ته وي او په ښکاره دخوښۍ نښې نه ښکاري نو دخوښۍ لفظ هم انسان ته نا اشنا برېښي چې دکرونا له املـه رامنځته شويوتغيراتو او متزلزلو حالاتو ته په پام سره دنړۍ په ډېرو برخو کې دګڼو خلکو حالت همداسې دی خو دا هم بايد له يادە ونه باسو چې ددې لفظ او له دې احساس پرته انساني ژوند نيمګړی دی او ددې مرض له بدو اغېزو وتل ناشوني دي.

خوښي دخلوروتورونه جوړ يو داسې لفظ دی چې هر انسان يې په خپل ژوندکې تر بل هرشي زيات غوښتونکی وي بلکې دزياترو انسانانو دژوند حاصل دخوښۍ دحصول هڅې وي ؛ همدا يې دخپل ژوند هدف ګرځولی وي او داسې ښکاري لکه چې دهمدې لپاره پيدا شوی وي چې څرنګه په دنيا کې دخوښۍ ژوند تېر کړي.

خو خوښي دهغه ښکلې او شوخې مرغۍ په څېر ده چې پريوښاخ کېنې هغه ښاخ وغورېږي ، تازه شي خو دامرغۍ ترې ژر بل ښاخ ته والوځي او ددې ښکلې مرغۍ پرځای تور کارغه راشي ، هغه ښاخ بېرته مراوی او تازګي يې له منځه ولاړه شي.

پر انسانانو دالله تعالی ډېر زيات نعمتونه دي ؛ مسلمان چې د الله تعالی دې نعمتونو ته پام وکړي او دافکر وکړي چې د دې نعمتونو حصول زما له توان نه بېرون و، څه ددې اهل نه وم نو ددېرې خوښۍ احساس يې په نصيب شي او پدې نعمتونو دالله تعالی شکر وباسي نو په نعمت او خوښۍ دواړو کې ډېروالی راشي.

او چې کله دالله تعالی له امتحاناتو سره مخامخ شي ؛ خفګان غم او مصيبت پرې راشي نو صبر پرې وکړي چې له املـه يې نه يواځې دا چې غم راکم شي بلکې په مصيبت کې هم خوښي محسوسوي او دالله تعالی له محبوبو بندګانو له جملې څخه وګرځي .

الله تعالی په آل عمران سورة کې فرمايي: ډېر له انبياءو داسې وو چې دالله تعالی په لار کې به يې جهاد کاوه ددوئ سره به ډېر

خداپرستان (اولیاء) هم شریک وو نو نه دوئ دهغو مصیبتونو له وجې چې دوئ ته دالله تعالی په لارکې رسېدل همت بایلود ،نه کمزوري شول نه یې سرونه ټیټ کړل او الله تعالی دصبر کونکو سره مینه کوي.

بس دمؤمن ژوند هم دهمدې شکر او صبر په منځ کې وي.

او هرچې نامسلمان وي نود شکر او صبرداحساس نه دې برخیتوب له امله دنعمتونو نه ، هغسې خوند او خوښي نه شي اخستی څومره چې پکار وي ؛ همدا راز د کوچني مصیبت پر مهال هم ډېر غمجن کېږي ؛ ژړد رواني مرضونو سره مخامخ کېږي او تري دځان خلاصولو یواځنی لار ځان وژنه بولي نوځکه دځان وژنې رجحان په دوئ او ددوئ په پل تلونکوتش په نامه مسلمانانو کې په ډېرې چټکی خپرېږي.

همدا صبر دی چې په یو مسلمان کې دغم پرمهال هم دخوښی احساس پیدا کوي یانې دهرځه په باره کې دښه انجام تمه لري او دهرځه ښه اړخونو ته ګوري او بد اړخونه یې له پامه غورځوي.

حاصل داچې دخوښی په حصول کې هم دانسان دعمل لوی لاس دی نوځکه خوښی ته هم په اوس نړۍ کې دیو فن په نظر کتل کېږي او د زدکړې او ښوداني مستقل اهتمام یې کېږي ؛ او یقیناً ددې وړ ده چې د زدکړې اهتمام یې وشي خو زمور په ټولنې کې دا یو ستر کمی دی چې مور کې دعمومي لارښوونو پرته په ځانګړې ډول د خوښی دحصول دزدکړې لپاره څه اهتمام نه تر سترګوکېږي حال دا چې زمور دشریعت لارښوونې پدې اړه دومره مثبتې دي چې پرې عمل وشي نو د خوښی دنه شتون ټول شکایتونه له منځه تلای شي.

پوهان وایې چې دخوښی ډېر تراو دانسان د زغم دقوت سره دی ؛ دچا دصبر او دزغم قوت چې څومره ځواکمن وي هغه به په خپل ژوند کې هغومره زیات خوښۍ اوکامیاب وي ؛ که له خپل قسمت نه شاکي نه وي ،د مصیبت ، غم ، درد ،تاوان پرمهال صابر وي ؛ دچا له لوري دنا مناسب سلوک رامخې ته کېدو پرمهال دې ژرعکس العمل نه ښکاره کولو؛ د درای سره دې چااختلاف ښکاره کړ خو په خلاصه سینه دې قبول کړ نو پوه شه چې دخوښی فن دې زده کړلو.

که په راحت اوزحمت کې له الله تعالی نه غافل نه شوې ؛ په غم او خوښی دواړو کې دې دالله نوم له خولې راوتلو او دانسانانو په خوښیوکې دې خپله خوښي لیدله نوپوه شه چې خوش قسمته یې او حقیقي او دوامداره خوښي دې په نصیب شویده ؛ په موقتو شیانو کې که څوک خوښي لټوي دوخت په تېرېدو به یې خوښي هم له منځه ولاړه شي.

دحادثاتو او واقعاتو پر مهال بې صبره او دچا په کوچني ناخوښه سلوک اوخبره غصه ښکاره کونکی او یا دچا په راغورځولو اووروسته کولو کې خپل ځان وراندې کونکی شخص په خپل ژوند کې خوښي نه شي ترلاسه کولی.

اروا‌پوهان وایي: د پرېشانۍ ،غم ، روح اوزړه دناراحتۍ تر ټولو عمده سبب په هغه څه نه رضایت دی څه چې تاسره دي.

په داسې وخت کې دترمذي شریف هغه حدیث هېرول ندي پکار چې (وارض بما عندک تکن اغنی الناس) یانې څه چې درسره دي پرې راضي اوسه نو ترټولو له غني خلکو به وګرځې .

څه چې ته ترلاسه کول غواړې او هغه نه ترلاسه کېږي دا نه حصول یې د ژوند معمول ګڼه ،پرې مه خفه کېږه ، حسرت پرې مه کوه! ځکه چې همداحسرت بیا د روانې اوجسماني مریضۍ سبب کېږي.

دا یقیني ده چې دژوند اسبابو کې پخپله خوشالي نشته خوشحالي پکې هغه وخت راځي چې پکې الله تعالی خوښي اوبرکت واچوي نو ډېرداسې وي چې دژوند ټول اسباب یې برابر وي خو خوښۍ نه وي او ډېر داسې وي چې دژوند له اسبابو بې برخې وي خوپه خپل ژوند کې ډېرخوښۍ وي.

دخوښۍ دحصول ځنې اسباب هم شته چې په ترلاسه کولو یې خوښي ترلاسه کېدی شي ؛ دا داسې اسباب دي چې دشرعي لارښوونو نه اخستل شویدي او اروا‌پوهانو ذکر کړیدي.

۱ -**مثبت فکر**: په منفي خبرو کې هم مثبت اړخ راویستل خپل عادت جوړ کړه او هره ورځ دالله تعالی په درې نعمتونو کې داسې درې اړخونه تلاش کړه چې له تا پټ وي که دې تر۴۰ ورځوهمداسې وکړل دمثبت فکرځښتن به شې او حقیقي خوښي به دې په برخه شي.

۲- کوچنیو بریالیتوبونو ته اهمیت ورکول:

په دنیوي ژوند کې خپله خوښي دکومې لوېې کامیابۍ او لوېې فتحې پورې مه تړه ؛ شایدلویه کامیابي او لویه فتحه دې هیڅکله په برخه نه شي نوتل به له خوښیو پې برخې شې.

کوچني بریالیتوبونه هم ستر ګڼه ترڅودې همېشنۍ خوښي په نصیب شي .

۳ په امورو کې توازن

په ژوند کې ډېر کار پکار دی خوباید دا له یاده ونه باسې چې دبدن ،کورودانې ،بچو ، نورواقاربو اودوستانو هم پرتا حق دی نو کارهم کوه خوبایـد سپورت او تفریح هم وکړې او اقاربو او دوستانو ته هم وخت ورکړې نوله حقیقي خوښیو به برخمن شې .

۴ تخلیقي اوتعمیري فکر

که په سمو او ناسمو ټولو شیانو کې دې دټولنې تقلید ونکړېلکې په ټولنې کې دفعال رول لوبولو لپاره دې منفي شیان ترک اومثبت دې راواخستل او ورته د رواج ورکولو لپاره دې ښې

لارې ایجاد کړې نو پوه شه چې تا حقیقي خوښي ترلاسه کړه .

٥ خپلې کمئ قبولې کړه

که ستا عیوب او نقائص چا درپه ګوته کړل یا ورباندې پخپله پوه شوې نو ویې منه ! که دې ومنلې ته کامیاب یې او ریښتینې خوښئ به دې په برخه شي ځکه چې انسان یواځې هغه مهال دخپلو عیبونو اوبدوخویونو نه ځان خلاصولی شي چې کله یې ومني.

٦ دخپلې خوښې کار انتخاب

ته مختلف کارونه او خدمتونه کولی شې خو ځني ستا په طبیعت برابر اوځني درباندې بوج دي نو ته هغه دځان لپاره انتخاب کړه چې په طبیعت دې برابر وي ؛ خپل استعدادونه او ارزښتناک وخت په هغه څه کې مه صرف کوه چې دې په طبیعت برابر نه وي .

٧ دماضي منفي خبرې هېرول

دماضي ترخه زړه ته مه نیسه اوځان پرې بې ګټې مه خفه کوه ؛ هغه څه چې ته یې نه شې بدلولای هېر یې کړه ؛ ستا حال زمانه ستا په اختیار کې ده په ګناه او بې ګټې کارونو کې یې مه ضایع کوه ؛ګټه ترې پورته کړه او دمستقبل په اړه په الله تعالی توکل وکړه.

٨ خود اعتمادي

ځان بې کاره اوبې ګټې شی مه ګڼه بلکې ددې فکرسره ژوند وکړه چې راته الله تعالی دېرداسې استعدادونه راکړیدي چې په دېرو نورو کې نشته ؛پدې فکربه په تاکې خود اعتمادي راشي او دکمترۍ داحساس نه به په امن کې شې .

٩ دنورو سره خپل ژوند مه مقایسه کوه

هغه خلک چې ستا په پرتله یې په بېکاره ژوند بښه بېکاري خپل ژوند ورسره مه مقایسه کوه چې پدې سره ته له حقیقي خوښیو بې برخې کېږې ؛ دېر داسې خلک چې په بېکاره یې ژوند بښه بېکاري شاید په خپل ژوندکې دېر ستومانه وي او دېر داسې خلک چې په بېکاره بدحاله بېکاري شاید ژوند یې دېر له اطمینان نه دک وي .

١٠ دخپلو بېوصفاتو استحضار

کله به ته له دې املې هم له خوښۍ بې برخې کېږې چې په خپل ځان کې به درته بدئ دېرې بېکاري ؛ خپلو خامیو بدیو اوعیبونو ته متوجې کېدل او دلرې کولو هڅه یې کول بښه خبره ده خو باید دا توجو زمور په ټولوبېوصفاتو پرده را خپره نکړي چې له املې یې سخت مغموم شو بلکې خپلې بښه صفات اوبښه خویونه هم رایادول پکار دي ترڅوپرې دحقیقي خوښۍ احساس وکړو.

مور ټول پوهېږو چې ددنیا ژوند عارضي او مختصردی نو پدې مختصرژوند کې د دائمي ژوند لپاره کار ضروري ؛ نیک او غوره کارونه پکار دي ترڅو ددنیا نه په اطمینان سره رخصت اوحقیقي او دائمي خوښي مو په نصیب شي.

جنګي جنايتونه (جون)

د ۲۰۲۰ز، کال د جون دمياشتې په ۴مه نيټه د غزني ولايت مرکز اروند سمنده کلي باندې داخلي عسکرو هاوانونه ويشتلي، يوه ښځه يې شهيده شوې او دوې ميرمني ټپيانې شوې دي.

د جون په ۴مه د فارياب ولايت د جمعه بازار ولسوالۍ په ينګي قلعه سيمه کې داخلي عسکرو دخلکو پر کورونو د هاوان پير کړی،د هاوان مرمۍ پر يو کور لګېدلې او يو سړی پکې شهيد شوی دی.

د جون په ۶مه د دايکندي ولايت دګيزاب ولسوالۍ د قزلباش په سيمه کې داخلي عسکرو دکلي ملا امام(مولوي شاه محمدصاحب) او يو بل دکاندار شهيدان کړي دي.

د جون په ۷مه دفراه ولايت د مرکزاروند خورمالق سيمه کې حکومتي عسکرو دعملياتو په مهال د خلکو له کورونو قيمتي توکي وړي او دوه تنه کروندګر(عبدالرحيم اوعبدالرازق) يې شهيدان کړي دي.

د جون په ۷مه د پروان ولايت د شينوارو ولسوالۍ په شترشهر سيمه کې داخلي عسکرو يو دوکاندار شهيد کړی او دوه تنه ملکي وګړي يې ټپيان کړي دي.

د جون په ۷مه دهلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ دچرخکيانو دمانده په سيمه کې داخلي عسکرو پر خلکو ډزې کړې چې له امله يې يو تن شهيد او بل تن ژوبل شوی دی.

د جون په ۸مه د کابل ولايت په موسهي ولسوالۍ کې داخلي عسکرو د محمدګل اکا په نوم يو ۸۰ کلن مؤذن شهيد کړی، دنوموړي دشهادت په غبرګون کې خلکو لاريون وکړ، خو پر مظاهره کونکو هم عسکرو ډزې وکړې چې له امله يې د روزالدين په نوم يو ملکي وګړی شهيد او اته تنه ټپيان شوي دي.

د جون په ۹مه د کندهار ولايت د ارغستان ولسوالۍ د امين قلعه په سيمه کې حکومتي عسکرو يوې ديني مدرسې ته اور اچولی او يو ماشوم يې شهيد کړی دی.

د جون په ۱۰مه د بادغيس ولايت د مرغاب ولسوالۍ په دې خوجه سيمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې څلور تنه ملکي وګړي ټپيان او يو تن شهيد شوی دی.

د جون په ۱۱مه دنيمروز ولايت دلارام ولسوالۍ د دهمزنګ پر سيمه حکومتي ځواکونو هاوانونه ويشتلي چې له امله يې يو تن شهيد او بل ژوبل شوی دی.

د جون په ۱۲مه حکومتي ځواکونو د غزني ولايت په نظرخان سيمه کې د کوچيانو په کيږديو هاوانونه ويشتلي، ددې هاوانونو له امله دوه ماشومان شهيدان او دوه تنه ملکي وګړي ټپيان شوي دي.

د جون په ۱۲مه د ميدان وردګ ولايت په سالارو سيمه کې داخلي عسکرو پر عامو خلکو ډزې کړې چې له امله يې د اقبال په نوم يو دوکاندار شهيد شوی دی.

د جون په ۱۲مه د خوست ولايت په موسی خيلو ولسوالۍ کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوې ميرمني او يو ماشوم ژوبل شوي دي.

د جون په ۱۳مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په شهاب الدین کلي کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې یو کور تخریب شوی او یوه میرمن پکې شهیده شوې ده.

د جون په ۱۳مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ په هفت اسیا سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی(حمید الله جان) چې په خپل موټر کې سپور و، له موټره کوز کړی او شهید کړی دی.همداراز دې عسکرو دجاوید په نوم یو بل تن هم چې له خپل ورور سره پر موټرسایکل سپور و او دکور په لور روان وو، شهید کړی او ورور یې سخت وهلی دی.

د جون په ۱۴مه دهلمند ولایت دسنګین ولسوالۍ دپانکلې په سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یو ماشوم شهید او بل ژوبل شوی دی.

د جون په ۱۴مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په محب خیلو سیمه کې د حکومتي خواکونو له لوري توغول شوي توغندي د واده پر مراسمو لګېدلې چې له امله یې د ښځو او ماشومانو په ګډون نهه تنه ولسي وګړي ژوبل شوي دي.

د جون په ۱۴مه د فراه ولایت دفراه رود ولسوالۍ دمیانجوی په سیمه کې دحکومتي خواکونو دهاوان مرمۍ پر یوه مدرسه لګېدلې چې له امله یې دمولوي عبدالباري په نوم یو ملکي وګړی او دوه تنه تنکي حافظان شهیدان شوي او یو بل کس ژوبل شوی دی.

د جون په ۱۴مه د لوګر ولایت مرکز اړوند خضر- سیمه کې اربکیانو د ولسي- خلکو د سپرلۍ موټر په نښه کړی او خوارلس تنه ملکي هیوادوال یې ټپیان کړي دي.

د جون په ۱۵مه د غزني ولایت مرکز اړوند ارباب قلعه سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د جون په ۱۵مه د غزني ولایت مرکز ته خبرمه اسفنده کلي باندې حکومتي خواکونو هاوانونه اوروېل، چې له امله یې یو ماشوم شهید شوی او خلکو ته مالي تاوانونه اوښتي دي.

د جون په ۱۵مه د هلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ په مربوطاتو کې هرات ته پر غځېدلې سړک حکومتي عسکرو دمهاجر بازار په نوم یو سیمه ییز بازار په بلدوزرونو ویجاړ کړی، دسیمه ییزو خلکو په وینا حکومتي عسکرو په دې بازار کې دولسي- خلکو ۲۰۰دوکانونه، ۱۳کانتینرونه،۸درملتونونه، او ۱ د تیلو پمپ ویجاړ کړي، قیمتي توکي یې ترې وړي او خلکو ته یې ملیونونه افغانۍ تاوان رسولی دی.

د جون په ۲۰مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په عمرخیلو سیمه کې دحکومتي خواکونو په بمبار کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي او یو ماشوم زخمي شوی دی.

د جون په ۲۱مه د غور ولایت د الله یار ولسوالۍ د غار په سیمه کې دحکومتي خواکونو په بمبار کې دوه تنه زخمیان شوي، یو مسجد زیانمن شوی او خلکو ته مالي تاوانونه اوښتي دي.

د جون په ۲۱مه دهلمند ولایت دسنګین ولسوالۍ دپانکیلې په سیمه کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې ځلور تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د جون په ۲۳مه د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ په تپه احمد بیګ کې داخلي عسکرو یو زخمي طالب شکنجه کړی، په غاړه کې یې پرې ور اچولی او بیا یې زندۍ کړی دی.

د جون په ۲۳مه د غزني په قرباغ ولسوالۍ کې حکومتي عسکرو دوه کلیوال(نعمت الله او عبدالکریم) له خپلو کورونو را ایستلي او په ټانکونو پسې یې په کشولو - کشولو شهیدان کړي دي.

د جون په ۲۳مه د کندز ولایت مرکز په چرخاب سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی او ګڼ نور یې ژوبل کړي دي.

د جون په ۲۴مه دهلمند دسنګین ولسوالۍ دچهاردې په سیمه کې د داخلي عسکرو د دې سې توپ په ډزو کې دوې میرمنې شهیدانې شوې او درې ماشومان ژوبل شوي دي.

د جـون پـه ۲۴مـه د بلـخ ولايـت د خـاص بلـخ ولسوالۍ په وزير اباد سيمه کې حکومتي خواکونـو ولسي- کورونه بمبار کړي، په دغـه بمبـار کې خلـور تنـه ملکـي هيوادوال شهيدان شوي او خلور تنه ټپيان شوي دي.

د جون په ۲۶مـه د پکتيکا ولايـت د خيـر کـوټ ولسوالۍ په سه ګانه کلي کې داخلي عسکرو دچاپې پـه مهال يو ملکـي وګړی(حـاجي عبـدالباري) او ۱۳ کلـن زوی يې شهيدان کړي دي.

د جون په ۲۶مه د خوسـت ولايـت د دوه منـده ولسوالۍ د ايټي په کلي کې د سپېرې له کمپـاين څخـه په توغول شوو هـاوانونو شـپږ تنـه ماشـومان او ښځې شهيدان او ژوبل شوي دي.

د جـون پـه ۲۶مـه د پـروان ولايـت د بکـرام ولسوالۍ په نياز درې کلي کې داخلي عسکرو د کليوالو ۱۲ د غنمو درمندونه سوځولي دي.

د جـون پـه ۲۶مـه د کـونړ ولايـت د منـوري ولسوالۍ په بچي کلي کې د صـفرچهار قطعـې عسـکرو دچاپې په مهال درې تنه ولسي وګړي شـهيدان کـړي او يو کس يې ژوبل کړی دی.

د جون په ۲۶مه د بدخشان ولايت د خاش خانـه ولسوالۍ په کزر کلي دحکومتي خواکونـو دتـوپچي پـه ډزو کې د ملا امـام(مولـوي عبـدالوکيل) کـور تخريـب شوی او يو ماشوم يې ژوبل شوی دی.

د جـون پـه ۲۶مـه د ميـدان وردګ ولايـت مرکـز اړوند فولادخاني سـيمه کـې داخـلي عسـکرو يـو ملکـي وګړی(ظفرخان) له خپله کوره رايسـتلی او شـهيد کـړی دی، همـداراز پـه جنـديخيلو کـې يـې يـو بـل ولسي- وګړی(سلطان محمد) شهيد کړی دی.

د جـون پـه ۲۷مـه دبـادغيس ولايـت د مرغـاب ولسوالۍ دترکو پـه کـلي کـې دحکومتي خواکونـو پـه هوايې بريد کې يو کور بمبار شوی،يو سړی پکې شـهيد شوی او مالي زيان يې اړولی دی.

د جون په ۲۸مه د پکتيکا ولايت د يوسف خيلـو ولسوالۍ په مشخيلو کلي کې د داخلي عسکرو پـه ډزو کې يو ماشوم شهيد او دوه تنه ژوبل شوي دي.

د جـون پـه ۲۸مـه د بـادغيس ولايـت د مرغـاب ولسوالۍ په جـوي کـنج، اکـازو او اسـحاقزو کليـو کـې دحکومتي خواکونو په بمبار کې خلور تنه ملکـي وګـړي شهيدان او دوه تنه ټپيان شـوي او دخلکـو کورونـو تـه زيان اوښتی دی.

د جـون پـه ۲۹مـه د هلمنـد ولايـت د سـنګين ولسوالۍ د زاړه بازار پر کنج\ مېله ځای باندې د ميوند قـول اردو د دوهمـې لـواء څخـه د ډې سي تـوپ څـو توغندي ويشتل شوي چې لـه املـه يـې درويشـت تنـه ولسي هيـوادوال شـهيدان او تـر څلويښـت ډيـر ملکـي وګړي ټپيان شوي دي، په ټپيانو او شـهيدانو کـې سـپين ږيـري، ځوانـان او ماشـومان شـامل دي، دوی ټـول ډې سيمه ييز کنج ته دحيواناتو د پېر او پلـور لپـاره راغـلي وو. حکومت له دې برید څخـه انکـار وکـړ، خـو عينـي شاهدانو ويل چې توغندي ددوهمـې لېـوا څخـه راپېـر شـول او پـه کـنج کـې ولګيـدل،تر بريـد دوې ورځـې وروسته ملکرو ملتونو هـم تائيـد کـړه چـې د يادشـوي برید عاملين حکومتي ځواکونه دي.

د جـون پـه ۲۹مـه د لـوګر ولايـت مرکـز اړونـد ګمبزې سيمه کې داخلي عسـکرو پـر ولسي- خلکـو ډزې کړې چې له املـه يې پنځه تنه ملکي هيوادوال شهيدان او ژوبل شوي دي.

د جـون پـه ۳۰مـه د حکـومتي ځواکونـو پـه يـو هوايې برید کې دبادغيس ولايت دمرغاب ولسوالۍ په مر کزي سيمه کې يـوه ښځه او ماشـو م زخمـي او يـو مسجد او کور زيانمن شوي دي.

د جون په ۳۰مه د بغلان ولايت د مرکـزي بغـلان ولسوالۍ په شپږم سرک سيمه کې دحکـومتي ځواکونـو په بمبار کې دکلي مسجد زيانمن شوی او خلکو تـه مـالي زيانونه اوښتي دي.

مأخذونـــه :[پې پې سي راډيـــو،ازادي = ،افغـــان اسلامي اژانس ،پژواک = ،ټول افغان ويېپانه ،لراوبر= ، نن ټکی اسيا=اوبينوا=]

ستا تر ښاره له دې ښاره

مشهود

اخیر به په مات سر درومې ښاماره له دې ښاره
وتلې بس همدغه یوه لاره له دې ښاره

راغلي چې په زور او خواک پیاوړي تر دې وړاندي
شړلي ستا په څیر مو څو څو واره له دې ښاره

په منډه منډه درومه چې سهار درباندي نه سي
سهار دي تلل ناشوني خپل تر ښاره له دې ښاره

مونډلای حیات نه سې د فردیو هډیره ده
مرګونه به سوغات یوسې اغیاره له دې ښاره

سیالی ته د زمرو چې راتلي خود به ناکام درومې
هیڅ نسته درته بله یوه چاره له دې ښاره

تاریخ ته د نیکونو که دي یوځلي نظر کړې
سرتیټي همیش تللي شرمساره له دې ښاره

دښتونه دي ، که غرونه که ګړنګ دی هیبت ناک دی
تاریخ د غیرتو زیږي خونخاره له دې ښاره

مشهوده اوس یې هم د توري شرنګ دی په غوږو کي
چې چا وړي زړګي دي ډک د ډاره له دې ښاره

فکر د بادشاه په شانته دنګ غواړمه رایې که

سمیع الله ترون

فکر د بادشاه په شانته دنګ غواړمه رایې که
ژوند لکه د کلي د ملنګ غواړمه رایې که

غواړم د همت په رسۍ ورسم شیرینې ته
ربه د فرهاد په څیر کولنګ غواړمه رایې که

ماته د باغچې د پټ پتوني کیسې یادې که
نن درنه په لاسو کې اترنګ غواړمه رایې که

بیا د اصفهان او د ډیلي په تندي پښه ږدمه
بیا د ابدالي غوندې غورځنګ غواړمه رایې که

ستا د پاکې مینې ډیوه بله ده خو لرې ده
زه یو دوه وزرې د پتنګ غواړمه رایې که

دا افغان تاتوبی د ایاز په شانته شکلی که
سترکې د محمود په مینه رنګ غواړمه رایې که

زه مې تري شعرونو ته خمار ورننباسمه
ای د شاعرانو ساقي بنګ غواړمه رایې که

خوار ترون ته لار د ریاضت لره وروښایه
پیره مریدي دا ستا تر څنګ غواړمه رایې که

غزل

صابرجان محصل

ماچې د مینې له بازار څخه ښکلا راوړې
مړاوي ژوندون ته مي د هیلو نوي ساه راوړې

دخیال کوتري مي د وخت پر طبیبانو کرځي
زخمي زړګی ته یی د درد بله دوا راوړي

د زړګی للمي به مو شنی شی درحمت په باران
اسمان وریځ دی زموږ تر کلی یی بریښنا راوړی

د ساحرانو ښاماران به اوس تالا ترغه شي
ما د موسی نبي هغه زړه امساء راوړی

د نوح طوفان د نیل څپی د ابابیلو ګوزار
بس ظالمانو ته مي دغه ښه جزا راوړی

فلکه نور مو ابتلا کی د غم مه ازمایه
تحفه کی موږ درته د خوار یتیم ژړا راوړی

ویده ضمیر پري ویښومه د صابر قلم یم
په پټه خوله مي د بلال ښکلي صدا راوړی

د ازادۍ وږمې

سعد

نور به دې هېواده سره یوموټی وګړي شي
بېرته به دي جوړ کړي ټول به ستا د بدن غړي شي

زور د عقیدې دی افغانانو پکې وړې ده
شل کاله جګړه کې نشول ستړي نه به ستړي شي

نوره نړۍ نوره ده خو دا خاوره ځانګړې ده
دلته کې چې ښکېل شي ائتلافونه دړي وړي شي

چاچې هم په زور زموږ په خاوره قدم ایښی دی
خپل وي که پردي وي موږ ته ټول اوبو راوړي شي

ډېر اغیار راغلي په روغ سر وتلي نه دي بیا
دلته یې راوړي ارمانونه هم نیمګړي شي

نن د وخت فرعون پرځېدلی نور به نه پاڅې
ټولي اژدهاوي او ماران به یې هم پړي شي

ځي د سوي آه سیلۍ د تور تمو کېږدۍ پسې
زر یې ورانوي چې ټینګې مراندې یې اومړې شي

دا د ازادۍ وږمې او دا د ولسونو شور
نور به د سپین سترګو پردیپالو سترګي خړي شي

بیابه سپین طالب پسې ها سپینه خپلواکي راځي
بیابه ټیټي سترګي لنډغر او دا لغړي شي

دا د انقلاب شپېلۍ او بیا د سعد غزل پکې
ویښ به ضمیرونه کړي احساس کې به پیاوړي شي

د کابل لاسپوڅې اداره په دغه ډول جنایتونو کې خپله بقا ویني!!

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational and Cultural Monthly Journal